


Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library




Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

1521

# ستادځوانۍ تصویرپه خوب
# اوده دے

اظهارالله اظهار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو کښې پښتو ... ... ...

# ټول حقوق د ... ... 

ټول حقونه د اداري په حق کښې زما

کتاب * ستا د ځوانۍ تصوير په خوب اوده دے

مصنّف * اظهار الله اظهار

ترتيب * محمد اياز غزل، شکيل احمد ناياب

اهتمام * پروفيسر شوکت الله حسن، محمد داؤد کمال محسن

پروف ريډنګ * نوشاد حکيم، پروفيسر سيد ايوب شاه

رومبے اشاعت * جنوري ۲۰۰۳ء

پريس * انصاري پرنټنګ پريس محله جنګي پېښور

کتابت * ارشاد خان "پښتو اکېډيمي پېښور

قيمت * دوسل روپۍ (۲۰۰)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتساب

دَخپل عظیم پلار پروفیسر انعام الله جانؔ قیس
او دَ خپلې درنې مور په نوم، چې
ساه ساه ئې راته دَ جنتونو نکهتونه
راسپړي. او نظر نظر ئې راته په لارو
کښې دَ رفعتونو اسمانونه او دَ اسمانونو
رفعتونه غوړوي

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

# د هائيکو

## هيئتي رنګونه، موضوعات او پښتنه هائيکو

---

لا رله هايکو خپلو ښائسته خويونو او سپېڅلو روېو پښتنه کړه. دې زړهٔ راښکونکې ادبي صنف دومره لږ وخت کښې د پښتون قام د اجتماعي لاشعور مرکز ته ځان ور اورسولو چې د شعري اصنافو د ارتقاء په تاريخ کښې ئې خيال کول هم يو خوب او خيال ګڼلے کېږي. د کومو صفتونو په بنياد چې يوه معاشره د خپل وجود جواز راپېدا کوي. هغه اوس کم او زيات د پښتنې هايکو په خټه کښې اغږلے شوي ښکاري. دغه وجه ده. چې هايکو په يوه مرحله کښې هم د پښتون قام نه ځان په فاصله نهٔ دے ساتلے. ښهٔ په نړه د دوي په غم ښادۍ او مړې ژوندې کښې شريکه شوې ده. او د پښتنو د ژوند ژواک نه ئې نهٔ يواځې ځان خبن ساتلے دے. بلکه قدم په قدم ئې د پښتنې سيمې د ژوندې روايتونو د رڼو قدرونو، سماجي غوښتنو، تهذيبي رويو، او سې ژوند او ثقافتي هلوځلو نه د خپل زړهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درزاګانې جوړې کړې دي . او اوس د هایکو په ساه ساه کېښې د بېښتې خاورې وړې نغمه راپورته کېږي او تېپه تېپه خورېږي.

لنډه دا چې بېښتې معاشره کېښې د ژبو ونه را واخله تر دې ساعته پورې څومره بدلون راغلی دی هایکو تر ې په مکېږ مکېږ خپله غږېږه او په هنر هنر خپلې مرمرينې لېچې راچاپېره کړې دي . او په خپله زورينه لوپېټه ئې ورله شمله هسکه ساتلې ده. ځکه خو د ځنو نباغلیو له اړخه نه د بېښتې هایکو غندنه بېخي داسې ښکاري لکه سړے چې خپلو پښو له تبر را اوبخوي .

د هایکو په موضوعاتي ارتقاء د خبرو کولو نه وړاندې دا لازمي ضرورت محسوسېږي چې د هایکو په هيئتي بدلون او پرمختګ دې هم رڼا اوغورځولے شي.
هایکو چې د جاپان د اوږد نظم " هایکائي " نه ځان را بېل کړو نو ګڼو شکلو نو کښې ئې ځان څرګند کړو. او په خارجي سطح ئې خپل ګڼ شمېره تجرباتي تصويرونه رابښکل . ولې د ځينو تصويرونو تجربې او د ځينو تجربو تصويرونه پکښې لکه د کاڼي د بُت په ځاے ولاړ پاتې شو. او د ارتقاء هېڅ تحرک او تموج پکښې راپېدا نهٔ شو. چې حيثيت ئې اوس د تاريخي حوالو نه سېوا هېڅ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نهٔ دے پاتې شوے. ولې ځنې اړخونه ئې نهٔ فقط ارتقاء سره مخ شو بلکه دَ خپل پرمختګ سفر دَ دنيا ګټ ګټ ته ور اورسول. خو چونکه دغه صورتونه هم دَ دنيا نورو ژبو او ادبياتو سل په سله خپل نهٔ کړل او دَ خپل مزاج او استعداد تر مخه ئې پکښې ضروري بدلون او خپل ځان سره مناسب سمون راوستلو ځکه نو په هيئتي سطحے ئې نور هم کړ اشکال او تماثيل مخې ته راوړل چې دَ وخت بدلېدونکيو ساعتونو کښې ځينو خپل ځانونه ژوندي اوساتل او ځينو لکه دَ سمندر دَ موجونو دَ سفر په لاره کښې خپل وجود او بائيللو.

دَ هائيکو دَ هيئتي تاريخ احاطه کول يقيناً يو ډېر وخت غوښتونکے عمل دے. ځکه نو دلته دَ عالمي ادبياتو نه او خاصکر دَ مشرقي ادب نه دَ هائيکو يو څو نمائنده هيئتي نمونې وړاندې کولے شي.

دَ هائيکو دَ درې مصرعه ايز تعين نه وړاندې په عالمي ادب کښې دَ يو مصرعي هائيکوګانې، دغه رنګ دَ دوو مصرعو هائيکوګانې هم سرونه راپورته کړل. او تر دې ساعته پکښې طبع ازمائيے کېږي. خو داسې صورتونه دَ هائيکو بنيادي هيولے سره زيات سمون نهٔ خوري.

لهذا دَ بقاء په حلقه ئې ځه واتيل هم ډېره ګرانه ده.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته دَ نمونې په ډول ترې نه مثالونه وړاندې کېږي.

"دَ یوې مصرعې هایکوګانې"

ترجمه ۱: یو لوګی دی چې په پارکنګ داکوزېږي کوره
(ایلیکس روهیله)

ترجمه ۲: یاران په هره کړکۍ
(کوردن ډین سوویل)

" ۳: دَ کړه مار دَ سر اسمان دے زما
(محمد ایاز غزل)

" ۴: دَ تعبیر ونو لار کښې ورک شمه زهٔ
(شکیل احمد نایاب)

" ۵: خو پلوشې زما دَ سترګو نظر هم یوړلو
(اظهار الله اظهار)

په دې ټولو مثالونو کښې دَ هایکو داخلي مزاج پټ پښتونې کوي. تصویرونه پکښې جوړېږي. دَ فطرت حادثې او دَ تخیّل رنګونه پکښې ترغاړه اوځي. ولې دَ شعور په سمندر کښې ډغسې غورځنګ نهٔ راولي. دغه سبب دے چې دلته تصویرونه یواځې تصویرونه او عکسونه دي. حرکت هم پکښې محسوسېږي. خو دَ فکر وړاندې منزل او دَ نتیجې کوټلې مرحلې ته ذهن ډېر په ګرانه وررسوي. او په خپله داسې وائي چې زمونږ دَ فنی تکمیل زاویې په نامعلومه لاره کښې

Scanned by CamScanner

ورکې شوي دي. موږ نيمګړي نيمه خوا يو.

"دوه مصرعه ايزې هايکوګانې"[۲]

ترجمه: ۱ دَ جنورۍ دريمې تاريخ دے
دَ دمې کوټې لا تر اوسه يخې دينه
(باب بولډ مين)

ع۲: ستا لوږه که مې رانه وړه
زهٔ به خپل ځان په اباسين لاهو کومه
(اظهار الله اظهار)

ع۳: ما باندې ستا سترګې بلا ګرانې دي!
ګنې نو اور به په ټول کلي پورې کړو وما
(اظهار الله اظهار)

کېدے شي دلته څوک اعتراض کوونکي دا هم او وائي چې دريمې دوه هايکوګانې خو دَ "يا قربان" دَ التزام نه يو خوا ته بېخي دَ پښتو ټپې دي. او که څه هم هايکو داسې وي نو بيا ټپه څهٔ بلا ده خو ولې هايکو په خپل ځان کښې دَ پښتو دَ ټپې خوږه هم لري. ځکه نو دَ ابلاغ دَ اسانتيا په خاطر او دَ تفهيم او وضاحت دپاره دَ "باب بولډ مين" دوه مصرعه ايزه هايکو دَ ټپې په هيئت کښې ترجمه کړے شوه. دويم مثال دَ دريمې په تتبع او مستند کښې راوړے شو البته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمه حواله دَ هایکو او دَ ټپې دَ صنفي تفریق په خیال راوړے شوه. چې کنې چرته دَ دواړو صنفونو هیئتي امتیاز یو بل کښې ګډ وډ او ورک نشي. او دا هم چې ځنې نادان معترضین په مثال دَ اصل ګمان کښې بیا چرته دَ خپل سر وښتهٔ را اونهٔ شوکوي. او نوي ماتمونه راجوړ نهٔ کړي.

بهرکیف دوه[۲] مصرعه ایزه هایکو دَ یوې مصرعه ایزه هایکو په مقابله کښې زیات فعالیت په دې لرې چې تصویر دَ تصور په لاره روانه وي ولې پښتو ادب سره سره په عالمي ادب کښې دَ درې[۳] مصرعه ایزه هایکو دَ تخلیق رجحان منګولې ګلکوي ګیا دے ځکه نو ورو ورو دوه مصرعه ایزو هایکو هم خپل نقشونه پیکه او تت کړي دي. او دَ سفر نه یې دَ ستړو مانې ګردونه راتاؤ شوي دي.

درې مصرعه ایزې هایکوګانې دَ هیئتي تنوع او ساختیاتي اختلاف باوجود خپل حقیقي روح ته زیاتي ورنږدې دي ځکه یې خو دَ تجرباتي پېښو باوجود ښکاره مقبولیت هم موندلے دے. هایکو چې دَ هیئت او ساخت کوم پېژندلي شکلونه ځان سره راوړلي دي. دلته ترې نه یو څو دَ مثال په طور وړاندې کولے شي. دَ درې مصرعه ایزې هایکو یو قدیم جاپاني شکل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوولس سېلابين شکل دے. په دې کښې اوولس چپې
دَ ۵ - ۷ - ۵ په ترتيب سره راځي او خپله تخليقي او
هُنري اکائي جوړه وي.
په اردو ژبه کښې دَ ضروري ذخافاتو نه يو
طرف ته دا هايکو دَ "بحر متدارک" دې ارکانو
سره سمه راځي.

فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فع

يا دَ موسيقۍ د دې ارکانو په مرسته سرته رسي.

سارے گاما پا
سارے گاما پا دا ني
سارے گاما پا

مثالونه ع ۱ :-

خوب مې ليدۀ څۀ
نۀ راته ياد ېږي اوس
شوے ئې تعبير ته
(قاسم محمود)

ع ۲ :- بس شو زما وار
مينه وينې وينې شوه
ورکه مې کړه لار
(نادم خټک)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ے ، په تال چې ځانګي

ځني زړه ستړي پېغلې

اور ته ور دانګي

(اظهار الله اظهار)

۴ے ، یو خوب او خیال دے

کارغه زده کړے کله

د زرقې چال دے

(اظهار الله اظهار)

دا انداز د پښتو ژبې بنیادي آهنګونو او موسیقي نظام سره سمون نه خوري. لهذا په پښتو ژبه کښې ئې لا تر اوسه د تخلیق باوجود هیڅ مقام نه دے تر لاسه کړے. بله دا چې په دریو مصرعو کښې اړو مړو اوولس څپې ځایول یا اولس څپې په دریو لنړو او بړدو ټاکلې شوو مصرعو کښې بندیوانې کول یو طرفته یقیناً یوه هنروري ده ولې هم دغه هنر د تخلیق په فطرت ناروا اثر هم غورځوي. او یو میکانیکي او مصنوعي فضا راجوړه وي. کم از کم د پښتو ژبې تر حده خو دي صورت تصنع کښې هیڅ شک نشته اوس که څوک په دې ترتیب کښې د تخلیق صحت په ځائے ساتلے شي. نو بیا خو پکښې هیڅ عیب نشته خو داسې ښکاري چې دا وړه به پېښه نه شي.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته دَ درې مصرعه ایزه هایکوګانو یوڅو نور شکلونه هم اووینئ۔

ع۱ : اوخاندهٔ
که خوښه دې وي (۳-۵-۳)
اوژاړهٔ
(شکیل احمد نایاب)

ع۲ :- اومنله
زما خبره (۳-۵-۳)
دوب به شي
(محمد ایاز غزل)

ع۳ : ستا نه به زار شمه خو
که دغه حال وي ګله (۷-۷-۷)
ستا نه به زار نهٔ شمه
(محمد ایاز غزل)

ع۴ : زما دَ کور بندیان خو دومرهٔ هم خاموشه نهٔ وو
اوس خو زما هاغه معصوم بچې هم حال دادے چې
زهٔ ئې په زوره تخنووُمه خو خندا نهٔ ورځي
(اقبال حیدر) (۱۶ - ۱۶ - ۱۶)

ع۵ : ستورې رانغاړم پلوشی کبې دَ ژوند
ستا بنائسته نوم دَ رنګینو لوګو په وزرونو لیکم
چې دَ ورېښمو قلم راواخلمه زهٔ
(اقبال حیدر) (۱۱ - ۱۹ - ۱۱)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶ ۔ دا د سحر خاموشي

خو د بناخونو منځ کښې شور کوي نن

يوه يوا ځې پاڼه (۷-۱۲-۷)

(ج ۔ ډبليو پيکټ)

۷ ۔ سينې د پښلو د لاسونو سره هم پوره شوې

داسې ښکاريږي کني (۱۶-۷-۱۶)

يوه پرده باندې ګلونه راتوکيږي رڼې

(روډ ويلموټ)

۸ ۔ د لوګونه به ډولۍ جوړه کړم

زه به رنګونه د سپرلو ټول پچرګه درولم

تا به بوځم لېونۍ (۱۱-۱۶-۷)

(اظهار الله اظهار)

۹ ۔ ځې رانه مه اړوه

لکه د سپينکي شان د اورنه الوتلې يمه

تا الله راغلې يمه (۷-۱۶-۷)

(اظهار الله اظهار)

۱۰ ۔ اوګوره

زه د خپلو سپو روپه اوربو باندې سورلي کوم

تا سره سيالي کوم (۳-۱۶-۷)

(محمد اياز غزل)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱ : دپوهریانو د ژوندون قصه به تاته کوم

زما جانانه (۲-۵-۱۶)

کینه

(تشکیل احمد نایاب)

دغه رنګ دموضوعاتو یا عنواناتو د لاندې ډیکلې شوې هایکوګانې او د مسلسل هایکوګانو مثالونه هم له نظره راتیرېږي چې د تجسس فقدان پکښې محسوسېږي. داسې هایکوګانې قدم په قدم خپله موضوع وړاندې بوځي او د ګڼو تصویرونو رنګونه پکښې د یو مرکزي تصویر څهره رابنکاره کوي خو څونګه داسې هایکوګانې د هایکو جامعیت، اختصار او علامتي پېرایې ته زیان وررسوي. ځکه ترې عام طور سره تخلیق کوونکي ډډه کوي. او یو بدعت يې ګڼي.

دغه رنګ د نثري نظم په رنګ ځنې تخلیق کوونکیو نثري هایکوګانې هم لیکلې دي. چې په دریو کرښو کښې خپله افسانه سرته رسوي ولې داسې هایکوګانې له آهنګ او غنایت نه معرّا وي ځکه د پښتنو د ذوق تنده پرې نه ماتېږي داسې برېښي چې د نثري نظم په رنګ به پښتانه د نثري هایکو معماتي صورت خپلولو ته تیار نشي ولې د موضوع تر څه د نثري هایکوګانو یو څو عکسونه ځکه وړاندې کولې شي چې د هایکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیئتي سفر اندازه تري هم اوشي. او د تاریخي ریکارډ
سمون هم سم شي.

"مثالونه"

۱: زه د خپل کور په چت ملاست یم
تورو شپه ده د اسمان ستوري شمارم
خو داسې بنکاري چې تري ستا غمونه ډېر زيات دي
(شکیل احمد نایاب)

۲: د کره مار د پاسه یوسف خان څوک دے
تا ته پته ده چې هغه هم غزل دے
مینه د قالبونو پروا داره نه وي
(محمد ایاز غزل)

۳: ستوري زما د خپو بناپونه دي
دا تول به زه په یو هنر رایو ځائے کړم
او ستا د زني خال به تري نه جوړ کړم
(اظهار الله اظهار)

په دې موقع دا صراحت هم ضروري گڼلے کیږي چې
په عالمي ادب کښې همدغه رنګ په مشقي ژبو کښې د
هایکو د مخلوط بحرونو تخلیق هم مخې ته راغلے دے
خو پکښې د اهنګونو سمون سم نهٔ دے ځکه
ئې یواځې په یادولو اکتفا کیږي. مثالونه ئې نهٔ شي
وړاندې کولے.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د هایکو د هیئتي سفر یو څو پړاوونه وو. خو څه نه چې پښتنه هایکو ویلې کېږي. هغه دي ټولو هیئتونو نه ځانته بیل کړه وړه او خوند رنګ لري پښتنه هایکو متوازي الاوزان هایکو ده چې هره مصرعه ئې بلې سره برابر او په ترنم او اهنګ کښې تړلې شوې وي. چونکه دې هایکو کښې مصرعې لنډې تنګې یا اوږدې لنډېږي نه ځکه ئې د پښتنو منصفانه ذوق خوښوي. دا ساختیاتي سلسله د پښتنو د موسیقۍ سره هم سل په سله سمه ده. او حافظه ئې هم په پوره تېزۍ قبلوي. خو دلته دا وضاحت هم ضروري دے چې پښتنه هایکو یوازې د درېو برابرو مصرعو تکرار هم نه دے. بلکه د یو خاص یوولس سېلابېز بحر د التزام نامه ده. چې د رزمیه بحرونو دې ارکانو سره لږ ډېر مماثلت لري. ارکان دي.

"فاعلاتن مفاعلن فعلن"

په هیئتي اعتبار پښتنه هایکو د خاص یوولس سېلابېز ردهم سره ځکه اوتړلې شوه. چې پرې د پښتو هایکو لیکونکیو ځان ته اجتهاد او اجماع کړې ده. او په پښتو ژبه کښې چې تردې ساعته څومره د هایکوګانو مجموعې مخې ته راغلې دي غالبه او درنه برخه ئې هم په دغه خاص اهنګونو کښې وجود موندلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے۔ او بیا پرې د پښتنو اولسي ذوق پوره پوره اعتماد هم کړے دے۔

د پښتني هایکو په دغه خاص هیئت کښې چې کومې مجموعې مخې ته راغلي دي. په کښې د بناغلي اسماعیل گوهر "مسکا" د اظهار الله اظهار "راته غوږ و نو کښې پنگړې شرنگوي" "کاڼي د گل په لاس کښې خوند نهٔ کوي"۔ او دا مجموعه "ستا د ځواني تصویر په خوب اوده دے" دغه رنگ د بناغلي ډاکټر دیدار یوسفزي "نسکورې لیې" د پروفیسر نواز طائر "خویونه خپل کلي کښې" د بیغلې ناهید سحر "خپلو خویونو له تعبیر لټوم" داسې د بناغلي محمد ایاز غزل د هایکو مجموعه "د بنا یښتونو د صحرا وریځې" او د شکیل احمد نایاب "پلوشې" هم په گوته کړې شوې چې کښې د تخلیق د مرحلو نه راتېرې شوې دي۔

د هایکو په داسې هیئت د پښتون قام درې طبقې متفق دي چې په کښې مشران ځوانان او بیغلې شاملې دي۔ ځکه دغې اتفاق له د اجتهاد او اجماع نامه ورکول عین روا دارې ده۔ او دغه خاص یوولس سیلابیزې هایکوگانې پښتني هایکوگانې گڼل بېځې بې ځایه نهٔ دي. په دې خاص تناظر کښې دا یو څو هایکوگانې اولولئ.

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع ۱، زړهٔ مې تنهاکۍ شي لوخړه اوکړي
پوهړ چې اوڅکي توريالي دَ وطن
دَ خور دَ سر لوپټه لهم خرڅوي

(شکيل احمد ناياب)

ع ۲، يوې کوچرۍ ته ډمکولو ويل
تا به يو ورځې سمندر لاهو کړي
مور دې په پښو کښې اوبهٔ ګرځوي

(محمد اياز غزل)

ع ۳، دَ داسې خلقو په ولقه کښې دے ژوند
چې په نصيب ئې دَ سپيلو زمکه ده
خو بيا هم ځي په اسمان لاړې توکي

(ډاکټر ديدار يوسفزے)

ع ۴، چا راته وے چې دَ سپيلي ورځو کښې
ډغه تر لرې ګرځي ساګو پسې
ځکه پټي کښې مې شرشم اوکرل

(اسماعيل ګوډر)

ع ۵، دَ ډسپتال ډغه منحوسه ګړه
مې نهٔ ډسبرې چې تا ماته اووې
"خپل ځان مې بايلو تهٔ مې اوګټلې"

(پروفيسر محمد نواز طائر)

Scanned by CamScanner

ع٦: دا خنداګانې ئې فريب وي هسې
د وخت مېچنه کښې د زړه کيږي مدام
د ادم زوي په ماته سپک مه ګوره

(ناهيد سحر)

ع٧: لونګي چې ګڼې کښې ګنده پاتې شي
راشي په ژبه ئې صفا ستره کړي
زما د ښځې نه ښه پاکه ده

(ظفر خان ظفر)

ع٨: د محبت له عظمتونو نه زار
چې د زمانو ئې وړونه جوړ شي
ميانده په سپينو سر ګړاګانې کوي

(اظهار الله اظهار)

ع٩: په شرق دې اولګي رسمونه د بنار
چې د کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما د هوسې کټ کښې مېلو اوليده

(اظهار الله اظهار)

بهرحال دغه خاص هيئت کښې دننه هم ځنې تجربې په نظر راځي - پورتني واړه مثالونه د معرّئ هائيکوګانو په زمره کښې راځي - خو په دغه معلوم چوکاټ او هيئت کښې مقفّىٰ هائيکوګانې هم ليکلې شوي دي - چې په درې مصرعو کښې ئې ترتيب او ړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



را اوړي یا وړاندې وروستو کېږي. د مثال په طور
داسې یوولس سېلابېزې مساوي الاوزان هایکوګانې
شته چې وړمبنۍ دوه مصرعې ئې په قافیه کښې تړلې
شوې دي. او آخري مصرعه ورسره په آهنګ کښې
برابره وي خو معنّئ وي. دغه رنګ اولنۍ او
آخرۍ مصرعه د قافیو په آهنګونو کښې راټوله
وي. ولې دوېمه یا منځنۍ مصرعه د قافیې نه
ازاده وي یا آخري دوه مصرعې د قافیو په لړه کښې
سللې شوې وي. او اولنۍ ددغې قدغن نه خلاصه
وي. داسې مثالونه هم شته چې درې واړه مصرعې
یکښې هم قافیه او هم ردیف وي. خو کومه بې ساختګي
چې په معنّئ شکل کښې موندلې شي. عموماً ترې دا
نور واړه صورتونه په څه نه څه حوالې سره
عاري وي. بهرکیف دلته د وضاحتي ترتیب سره
سمې هایکوګانې رانقل کېږي.

"مثالونه"

ع ۱ ارمان په غېږ کښې د ارمان ورک شولو
مانه د لاس کرښو کښې ځان ورک شولو
د زړه درزا په سې اوس لاړ چرته شم
(اظهار الله اظهار)

Scanned by CamScanner

ع۲ : ما پکښې عکس د لیونتوب اولیده
په سوچ کښې ورکه شوه د ژوند ائینه
زه چې بیدار شومه، ما خوب اولیده

(اظهار الله اظهار)

ع۳ : د سترګو تور دې د غزل مطلع کړم
داسې را ټول را تقسیم شومه زه
لکه د کاڼي په مینځ نیم شومه زه

( " )

ع۴ : د وخت رفتار لا اودرولے شي څوک
داسې په وړاندې زمانه لاړه شي
چې ائینه دانه وانه لاړه شي

( " )

ع۵ : زنځیر موکړے، موږ ې زنځیر اوخوړه
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړه
نن دې وینو رانه تصویر اوخوړه

( " )

دا حقیقت دے چې یک د تخلیق په پیمانه خپل اعتبار اونه بایللې نو بیا ئې د هیئت د وجود او ثبوت دپاره د هغې خارجي دلیل جواز نه رامیدا کیږي خو د ظاهر سترګو نظر لنډ تنګ وي. او د هر څه دپاره یوه ټاکلې شوې پیمانه او فرم غواړي. او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه فورم کښې ژوند او فن دواړه بند یوان هم لیدل غواړي - دا خبره ځکه اوکړے شوه چې دَ ځینو جامد ذهنونو او رجعت خوښونکو عناصرو دا خیال دے کنې چې هایکو که دَ ۵ - ۷ - ۵ په اوولس سیلابېز ترتیب اونهٔ لیکلے شي ـ نو هغه به بېخي هایکو نهٔ وي . او حال دا دے چې داسې ناروا قدغنونه جاپانیان هم دَ تخلیق دَ فطرت په لاره کښې خنډ ګڼي. نو بیا آخر په دوي دَ اوولسو سیلابونو چېه چېه او ډلي ډلي پېریان ولې ناست دي. اوس که چرې په دغه ترتیب کښې یښهٔ معیاري شاعري کېدله نو بیا هم یوه خبره وه خو داسې هم نهٔ دي شوي - ددغې هیئت خوښونکي شاعري نهٔ کوي بلکه ناست وي خپلې ګوتې شمېري او ځان ته ننډي او اوږدي مصرعې رالنډوي او په لاس کښې دَ لفظونو خوږد ونکي او خویونکي کبانو رانیولو بې ځایه تکلّف کښې خپل وختونه ضائع کوي. ګنې چې دي ټوله سلسله کښې آورد په اُمسد غلبه وي .

سوال دا راپیدا کېږي چې په دغه پېراۍ کښې څه شي ته راغلي دي - دَ شعر په پیمانه څه مقام هم لري او که نه دا ټول دَ غیر فطري اوازونو یو فریب او ریاضتي پېښه ده .

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حقیقت دے که جاپانۍ هایکو پښتو ته راځي نو د پښتنو د دود دستور د لاندې به ئې هیئت، ساخت او معیارونو او پیمانو کښې لازمي بدلون راځي. ځکه چې جاپانۍ ژبه د خپل مجموعي مزاج او صرفي نحوي او صوتیاتي جوړښت په اعتبار هم د پښتو ژبې سره اړیکه نه لري او س که پښتانه هایکو تخلیق کوي نو په هیئت کښې به ئې د پښتو ژبې او د پښتنو تمام د معروضي حالاتو په تناظر کښې کیږي او زیات خامخا راولي. ځکه که په اسالیبو کښې دغه بدلون رانشي نو بیا دا ټوله سلسله هسې یوه لوبه ټوقه شي ځکه نو داسې عناصرو له پکار دي چې د نورو د ناپوهۍ د فکر نه زیات د خپل مړسېن او مرغیچن ذوق جاج واخلي او د پښتنې هایکو د تحریک مخې له دې نه راځي ګني نو د غورځنګونو په دې سمندر کښې به لکه د ګنګخړي لاهو شي.

ځني لیکوالو چې پکښې ښاغلے اسیر منګل، ښاغلے اباسین یوسفزے، ښاغلے روښان یوسفزے، ښاغلے غازي سیال، پروفیسر محمد نواز طائر او رحمت شاه سائل په اولني قطار کښې په نظر راځي. په دې بحث کښې هم لوستونکي تېرباسي ګني چې هایکو د جاپان نه نه ده راغلې بلکه په پښتو کښې د کاکړۍ غاړې په

Scanned by CamScanner

شکل کښې وړاندې نه موجوده وه. دا خبره غیر
تحقیقي، غیر منطقي او غیر اصولي ده. غیر تحقیقي په
دې ده چې مونږ سره د کاکړۍ غاړې د ارتقاء هیڅ
معلوم تاریخ نشته. فقط د یو څو خورو ورو وراستو
او کړو وړو نمونو په لاس راتلل د دې خبرې دلیل
نشي کېدے. ځکه چې هایکو به د کاکړۍ غاړې
نه را زیږېدلې وي. دا بستایسلي بناغلي څو دومره پورې
وائي چې د جاپان هایکو هم د پښتو د کاکړۍ غاړې نه
راپیدا شوې ده. کمال دے د هایکو د صنف یو معلوم
تاریخ دې چې ټولې دنیا ته ښکاره دے. او په پوره
تواتر سره د ابتداء نه را واخله تر دې دمه پورې
را رسیدلے دے. او حال دا دے چې پښتنو ادیبانو له
تر اوسه دا هم نه دي پېژندلې چې د کاکړۍ غاړې څه
ساخت، څه تاریخ او څه څه هیئتونه دي. او د
کومو خاص موضوعاتو احاطه کوي یا په کلاسیکي
شاعرانو کښې دا چا، چا تخلیق کړې ده. او دا هم چې
کاکړۍ غاړه او هایکو په هنري او هیئتي حوالو د
یو بل نه په څومره فاصله دي. که چرې دا دوئیلے
شي ځکه چې دا د هایکو اضافي کنټریبیوشن دے. چې
په پښتو کښې ئې "کاکړۍ غاړې" را اوویستلې نو بې
ځایه به نه وي. ځکه چې پښتنې هایکو پښتانه د

خپل ماضي د ورکو نندارو تماشو ته راپارولي دي-
(او دا هم د هایکو کمال دے چې پښتانه ئې یو واري بیا
په تپه مشین کړل).

د "هایکو" او "کاکړۍ غاړې" راپیو ځائے کولو
دعویٰ غیر منطقي په دې حواله ده چې "کاکړۍ غاړې"
څه ادبي صنف نه دے. بلکه د اولسي لوبو ټوقو
دونړو، اړونو او د لفظي او ذهني کرتبونو حیثیت
لري. بل ئې رواج دومره کم پاتې شوے دے چې اکثر
پښتانه پرې په خپله هم د سره نه رسي. د سوچ
مقام دے چې په کومو داوُونو پېچونو کښې پښتانه،
په خپله ستړي وځي. نو جاپانیان به تر پښه اخر
څنګه اثر واخلي او بیا به ورله لا د یو ادبي صنف
مقام هم ورکوي. حقیقت دا دے چې د جاپان او د
پښتو ادبي تاریخ داسې لسځي ثبوت هم نه لري چې
کښې دغې مفروضې ته پرې تقویت ور اورسي. اوس
که چرې جاپانیانو د پښتو ادب نه څه استفاده کول
هم غوختل نو د پښتو ژبې نور معلوم صنفونه نه
ووچې د کاکړۍ غاړې غوندې مجهول څیزونو پورې
په اختل. دې لړ کښې د قلندر مومند صیب رائے ده
چې پښتنو لیکونکیو له نه دي پکار چې د هر راتلونکي ادبي
صنف جرړې دې په پښتون ثقافت کښې د کتلو ضد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کړي. خاص کر چې هيڅ قرينه پرې هم شهادت نه کوي.

د "کاکړۍ غاړې" او "هايکو" د اتصال او يووالي دا دعوی غير اصولي په دې ده چې د "کاکړۍ غاړې" او هايکو تر منځه دومره ظاهري، باطني، لفظي، معنوي، منطقي هيئتي، شعري، خارجي او داخلي لرې والې پروت دے. چې د دواړو دا يو ځائے کولو عمل د جهل مرکب په دائره کښې راځي اوس که د ذوق خاوندان د هايکو هيئتي ادلون بدلون ته يو نظر هم ور او کړځوي نو ددغو ياد بناغليو د راجوړې کړې شوې ډرامې ډراپ سين به په خپلو سترګو اووينې.

او بيا په تېره تېره بناغلے رحمت شاه سائل په دې حواله دومره خطرناک حد ته رسيدلے دے چې د سياق او سباق نه يو خوا ته د پښتو د ميترې شاعرۍ د خزانې نه د درېو درېو مصرعو خود ساخته اکايئے جوړوي. او د هايکو عنوان ورله ورکوي که د بناغلي وس اورسيده نو د پښتو د کلهمې شاعرۍ نه به د ځنه وړاندې ورستو د مصرعو په خارجولو او په ځه ضروري تحريفونو او اضافو هايکو ګانې راجوړې کړي. دا ريښتيا دي چې چرته هم د علمي او ادبي تحقيق لارې بندې وي. نو بيا هم داسې ناروا اوناشونې کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو شکر ورستل پکار دي. چې پښتانه اوس په چا هم
په پښتو سترګو باور نه کوي. سائل صاحب ته دي
معلومه وي چې هایکو څه د ګنجې لیونۍ مینه هم
نه ده چې هر کس او ناکس به پکښې دخپلې برخې
ترلاسه کولو خوبونه ويني.

بهر کیف د ظاهري هیئت نه یو خوا ته هایکو
یو داخلي صنف هم دے چې د لمحو ژوند او د ژوند
لمحې د جمال د احساس د لاندې په ژورو تخلیقي تجربو
کښې رانغاړي. دا صنف د ښکاره وضاحتونو نه ځانته
یو بیله د رازونو لار را اوباسي. لکه د غزل د صنف
هایکو هم د رمزیت، اخفاء، اشارو، کنایو او استعارو
په ژبه خپل پیغام بل ته ورسوي. دا صنف د خپل
ورک داخل نه د انکشاف ساعتونه رازېږي. او د
موجود نه زیات محسوس ته پام ورګرځوي. دا
رښتیا دي چې هایکو یو ادبي صنف دے خو هایکو د
یو سپېځلي تهذیب او کوتلي تمدن نامه هم ده.
هایکو د رنګونو او تصویرونو هنر دے. خو د
ژوندي تصویرونو هنر چې ځانته د جهان خواره
عکسونه راستنوي ګنې چې هایکو د متحرکو تصویرونو
خاموشه ژبه ده او د ژبې د خاموشیو ګویان انځور دے.
د هایکوګانو رانه تصویرونه کم مونږ له څه

Scanned by CamScanner

جوابونه راکوي او څه رازونه راته وايي نو د
شوترو په سر راته څه سوالونه او تپوسونه
هم کوي. هایکو د تاش یو غورځنګ هم نه دی بلکه
د یوې زورورې تخلیقي لحظې او باطني تجربې یو ښائسته
او هنري اظهار دی. دلته لحظې تصویرونه کېږي او
بیا دغه تصویرونه د نسلونو په تاریخ د انسان
په نفسیاتي او د موسمونو په بدلون رابدلون او
د تهذیبونو د زمانو په ترتیب او هسک کېږي ورکېږي
او ښکاره کېږي، ډوبېږي او رابرڅېره کېږي او
د انسان د ذات او کائنات ترمنځه فاصلې په مینه
مینه او باسي. معاشره په خپلو کړو وړو او خدوخال
کښې په هنر هنر را ښکاره کوي.

ددې نه اګاهو چې د هایکو په موضوعاتو سرسرې
خبرې او کړې شي لوستونکو ته د مغربي او مشرقي
ژبو د ځینو هایکوګانو ترجمې په دې غرض ور
وړاندې کېږي چې یو خو ورته د هایکو د 'افاقي
تخلیق اندازه اولګي او بل په دې وسیله د مختلف قامونو
د سوچ د انداز نه هم خبر شي. دغه رنګ د هایکو
په مختلفو ژبو اثر او د مختلفو ژبو د هایکو په ساخت
او موضوع د غورزېدلي اثراتو لږه ډېره اندازه ورته
هم اوشي او بیاد پښتو ژبې د فراختیا، مېلمستیا، اظهاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوت او جوهر پته ورته هم اوښکي او دغه رنګ په دي بهانه دَ دنیا دَ نورو ژبو او پښتو ژبي دَ هایکوګانو څه تقابلي عکسونه هم دوي ته را وړاندې شي او دا شعور ورته حاصل شي چي دَ پښتو هایکو ساخت او هیئت ولې دَ دنیا دَ نورو ژبو نه ځانته او بدل دے یا دغه رنګ پکار دي.

## دَ انګرېزي هایکوګانو دَ پښتو ترجمې

ع۱

| | |
|---|---|
| The baby | ته دې ماشوم یې ته ګورې چي |
| sucking his Thumb | خو مره په مینه ګوته روي |
| Moon gazes | سپینه سپوږمۍ دید نو نه کوي |

(Tom clausen)

ع۲

| | |
|---|---|
| First snow | دَ موسم واوره وربدل شروع شو |
| gathers | دَ انغرې نه ګېر چاپېره ګوره |
| all in | نن دَ یارانو محفل بنه ګرم دے |

(Barbura Ressler)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ـ ع

In a swing — اَچي پـه ټال باندې جوټه او خوري او
The widening are — بيا راته او خاندي دَ شو نډو په سـر
of The smile — ډک دَ موجونو سمندر شمـه زړه

(John Thomp son)

دَ فرانسيسي دَ يوې هايکو ترجمه

۴ـ ع

vent dérange, — هوا ته او کوره پا کمله شـوله
on dance al'orage — دَ طو فانونو په اوږو الوځي
c'est nuageet dobaTa — ستا لويټه او دَ اسمان وريځې

دَ عربي ژبې هايکو ګانې او ترجمې

۵ـ ع

دروغ دي ټولي دَ دنيا دا ويرې
که دې رښتيا دَ کائنات اوليـدل
دلتـه لـويې ټوله الله لره ده

کـذب کل الخـوف کـذب
احـق الحـق فى المعالم
الله اکبر الـلـه اکـبر

(مترجم پروفيسر عطيه جليل عرب)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ع۶

چرته چې څمه راته وړاندې ته ئې
په نعره لاره هرګوته یې قسم دے
دَ الله هو یو هنګامه جوړه ده
في کل مکان انت یا رب
ای زمانٍ ای مکان
یزوی الصوت الله هو

(مترجم پروفیسر عطیه خلیل عرب)

دَ فارسي ژبې هایکوګانې او ترجمې

ع۷

اوښکې مې کمې کمې اوس تو ئېږي — گریه کم کم است
بلا موده اوشوه زما دننه — از زمانه یا در دل
دَ یو موسم حکمرانې جوړه ده — یک رنګ موسم است

ع۸

دانې باران دَ پشکال داسې وو — بارانِ امسال
دَ اونو پاڼې زعفراني شوې توې — زرد پریده برګِ دل
او دیوالونه مې دَ کور راشنه شو — سبز شد دیوار

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سندهي هایکوګانې او ترجمې

ع۹

غرونو ته او ګوره هېڅ غږ نه کوي
ګم صم تیا ګهسار
خو چې ازار ورسي شو دی نو
ما ګهڼ کې پیتر سین پیا
اوس د ډېرو عذاب انسان دل کوي
صد بن جا ازار

(اقبال حیدر)

ع۱۰

لمبې نه ځان له تندې اوړنې ته
یاتې جا جهرټا
ورسې لږ غوندې لمبون خو اوګره
ګولڼ سان ملې وینډا
نو د اوبو چینه هم دلته کښې ده
منان مرو پیاسا

(اقبال حیدر)

## د بلوچي هایکوګانې او ترجمې

ع۱۱

دا زړه مې لمسي بې قرار دې کښې
بې قرار انت دل
د هر موسم په ژبه دا نغمه ده
موسم انت و دارانی
د منزلونو سپورې لرې نه دي
دور نه لنت منزل

(پروفیسر غني پرواز)

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ع

زهٔ هم دَ مینې دَ احساس قیدي یم / همزه بشریک آن
دالله که غم که خوشحالی راکوي / درد بخشیت که دشی
هرڅه چې غواړي دَ جانان خوښه ده / یاد یه کو لیگ انت
(ډاکټر علي دوست بلوچ)

دَ پنجابي هایکو ګانې او ترجمې

۱۳ع

پر پرېږده دَ سپورو تماشې نهٔ کوم
زهٔ دَ ختلي نمر زړا ته ولي
دومره دَ لاندې نه نظر اوکړمه

ڈھلدے سائے دے دل وچ کیوں تکدی
میں بلندی ساں اپنوان کیہہ ویہندی
میں تے یا نن ساں چڑھ ھرے سورج دی

۱۴ع

خلقو ته ښکي دَ وفا زده توم
اوس که زما نه هم جفا اوشوله
ځان له به یو چه دوه سزا ورکوم

میں سبق دینی آں وفا وان را
مینتھوں بے بے وفائی ہو جاوے
دونی ملنی این فر سزا مینوں

Scanned by CamScanner

ددې مثالونو په رڼا کښې یقیناً چې د ژبو د تهذیب
فرق به په لوستونکیو منکشف شوے وي. او دا
اندازه به ورته هم لګېدلې وي چې د دنیا ثقافتونه
په کوم نقطه را یو ځائے کېږي او په کوم پړاو
بېلېږي.

بې ځایه به نه وي که د جاپان د ځینو نمائنده
هایکو نګارانو د یو څو هایکوګانو ترجمې هم په دې
مرحله رانقل کړے شي چې لوستونکیو ته دا شعور هم
حاصل شي چې د جاپان زمکه او پښتنه خاوره خپلو
کښې څومره ثقافتي فاصلې او جذباتي اړیکې لري.

ع۱۵:
او به په څه راښېداري شولې
نن چې ناسایه یو اوده ګلو ته
یو د چینیدنې چې ټوپ اووهه

(باشو)

ع۱۶:
څومره بې کچه زړه راښکون دے پکښې
دا د دوؤ غرونو مینځ کښې لاره چې ده
د بنفشې ګلونه خاندې پکښې

(باشو)

ع۱۷:
بېخي ورک وومه یواځې وومه
چې مې یو اوچه څانګه ماته کړله
د زړه د خلاصه مې ژړلي دي نن

(شیکی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَخاموشۍ راخور جادو دې پکښې ع۱۸
دَ چينډ خانو اوازونه واوره
يو الله هو او الله هو دې پکښې

(بوسون)

که دَ ما بنام تياره خوره شي نو څه ع۱۹
اُ نرګسي سترګې چي اور اوريسي
دَ زړه په لار کښې مې ډيوې بلې شي

(بوسون)

تَه دَ مارغانو وينا واوره کنه ع۲۰
واڼي جهاز هوا کښې پورته شي او
خپلو وزرو له رپا نه ورکوي

(يا ماکوچي)

ورځه زمونږ په سر اور وروي ع۲۱
دَ شپې موو ژني حادثې دَ فراق
په کومه لاره باندې تګ اوکړي څوک

(سانتوکا)

ما سره مل زما خوبونو کښې دي ع۲۲
سترګې چې پټې کړم بښکاره ئې وينم
هغه زما نه جدا شوې نه دي

(سانتوکا)

Scanned by CamScanner

ع۲۳، واوره، هوا او د باران شرقا وي
د جدایي په دې موسم کښې راشه
چې قافلې سره ملګري شو مونږ

(اِسا)

ع۲۴، اُف دا سپین بږیرے بوډا اووینه لږ
چې سر وهلے بر وهلے ګرځي
په ادیره کښې ترې نه لار ورکه ده

(اِسا)

کېدے شي چې څنې د وهم رنځوران دا هم وائي چې دا نمونې هسې بې ځایه راوړلے شوي دي. خو رښتیا خبره دا ده چې په دې حواله پښتانه لوستونکي په ورمبي ځل د هایکو عالمي تهذیب سره پېژندګلو تر لاسه کوي. او بیا په دې پېر ایې کښې لوستونکو ته دا هم ښودلے شوي دي چې هایکو څومره سنجیده تخلیق دے او د څومره تخلیقي زاره چاوډون غوښتونکے دے.

پاتې شوه دا خبره چې هایکو د کومو موضوعاتو احاطه کوي. نو ددې خبرې ښکاره جواب خو دا دے چې دا یو ادبي صنف دے او د ادب موضوع ژوند سره تړلي واړه موضوعات وي. ځکه نو په هایکو د موضوعاتو قدغن نکول بېخي ناروا کار دے خو چونکه

هایکو دَ هیئتي ارتقاء سره سره دَ موضوعاتي ارتقاء
نه هم را تېره شوې ده نو بایېد چې سرسري ذکر
يې اوشي . دَ هایکو دَ هیئتي تبدیلیو په شان دَ
هایکو دَ موضوعاتي تنوعاتو اصل مرکز هم جاپان
دے ځکه نو دَ څه وخت دپاره سپوږي خپل اصل
ته ورګرځولې کېږي -

دَ هایکو دَ موجد او باني "باشو" رائې ده

"دَ هایکو تخلیق کښې دَ باشو مانو فطري
روح ته نظر ورستنول پکار دي"

باشو دَ فطرت او دَ انسان ترمینځه رابطه دَ هایکو
موضوع جوړه کړه او بیا يې په یوه ننداره کښې دَ
ګڼو ننداړو او تماشو سپوږي هم په ګډا کړل . لنډه دا
چې باشو هایکو دَ فطرت راز داره اوګرځوله-

"مسا اوکاشیکي" چې دَ باشو معاصر وو دَ خپلو
لسو فلسفیانو شاګردانو په مرسته دَ هایکو موضوع ذاتي
وصائفو او شخصي انفرادیت سره اوتړله او دَ هایکو
دَ تخلیق سترګې يې دَ انسان دَ داخل پټ پټو نو ته ور
ستنې کړې خو دا سلسله ورستو دَ لفظونو یو ځنګل
کښې بدله شوه چې معنې به پکښې ورکېدلې. ځکه
خو "بسون" ددې رجحان غند نه اوکړه . او باشو ته
يې دَ ورستېدلو ښکاره اعلان اوکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بایاشی اِسّا" دَ هایکو تخلیق دَ ژبېښتلې طبقې او دَ وړو وړو بچې وسو مارغانو څناورو دَ دردېدلې او رڅېدلې ژوند دَ اظهار سره اوتړلو.

او بیا دَ جاپان دَ جدید هایکو لیکونکیو سرخیل "سی، شی ماماکوچی" دَ هایکو دَ تخلیق خوره جولۍ کښې دَ فطرت دَ تماشو سره سره دَ کائناتو دَ تکوینې نظام رازونه او سماجې پېښو اسباب هم را اونغښتل.

بهر کیف دَ موضوعاتو دَ تنوع باوجود دې ټولو هایکو لیکونکو کښې فطرت او دَ فطرت متعلقات شریک قدر او موضوع وه. خو په جاپان کښې دَ هایکو لیکونکیو یو داسې ډله هم پېدا شوه چې دَ فطرت او دَ فطرت سره تړلې عناصر او عوامل ئې رد کول شروع کړل او دَ هایکو په تخلیق کښې ئې د دغې څېزونو نفې اوکړه. دَ دوی په خیال تېرې لمحې او دَ فطرت دَ موسمونو بدلېدل رابدلېدل په ذهن کښې دَ ماضي دَ جاګیر دارانه سوچ عکسونه ورننه باسي ولې بیا هم دَ جاپان زیات تره هایکو نګارانو دَ فطرت غېږه کښې دَ خوب لیدلو عادت پرې نښودلو.

ددې اختلاف په شا دَ تخلیق دَ ازاد عمل (Free Imaginative creativity) او دَ تخلیقي انضباط دَ (Serious Artistic discipline) متقابلو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملونو انګازې صفا اوربدلے شي.

ترڅو چې د ښتنې هایکو د موضوعاتو تعلق دے نو ښتنه هایکو په دې لړکښې په ځان لهېځ قدغن نهٔ بردي. هاغه ټولې هلې ځلې چې د ښتنو د ژوند تصویر ترینه سازېږي. دا ئې په ځان کښې ځایوي. البته اخلاقي قدرونه د ښتو د لاندې نهٔ راولي د ښتنې هایکو پس ایه چاله هم دا بلنه نه ورکوي چې راشه په ماکښې د خپلو سفلي او حیواني خواهشاتو لټون اوکړه. یا په ماکښې د خپل جنس زده ژوند او ځنګلي مزاج تنداري اوګوره اوس که څوک داسې کوي نو هغه پوهې شه او د هغهٔ خدائے.

زهٔ دلته یو وارې بیا ددې خیال اعاده کوم چې ښتنه هایکو کوم اجتماعي عمل او اجتهادي بصیرت رازېږولي ده باید چې رعایت او لحاظ ئې اوساتلے شي. مطلب دا هم نهٔ دے چې د تجربو سفر دې په ځائے اودرېږي. ولې ترڅو چې په هایکوکښې نوې کامیابه او معقول هیئتي تجربه نهٔ وي شوي. نو د بې ځایه اختلاف سنګر پرېښودل عین روا داري ده. او بیا هسې هم د یوې کامیابې تجربې ځانه غند نه ژبې ته نقصان وُررسوي.

د موجوده ښتنې هایکو کېنه دا هم ده چې خپل

ځان او خپله جامه ئې د پښتنو د ثقافت په رنګونو ښائسته کړې ده. د داسې هائیکو راتګ د پښتو ژبې د اوازونو، سیلابونو او انګازو ګټور ې لحظې دي. پښتنه هائیکو نه یوازې د فطرت هنداره ده بلکه د فطرت او روایت د اختلاط نه د رازېږېدونکو مظاهرو په ملاسورلې هم خوږې ګڼیا ده. پښتنه هائیکو د فطرت او روایت په ګټهېږېدونو پښه نیولې د ژوند تر تبدیلې لحظې رانیسې او نوې تنظیمې او هنرې ساه پکښې وردپوکي. دغه رنګ ځان له د مخ سره راټولوي.

باید چې پښتانه هائیکو لیکونکې د چاپېره ماحول سره سره خپلې تخلیقې چینې او د ځان دننه رښتیا په پوره هنرې پوستوالې او روانۍ سره راپوځائې کړې او د عظمت او رفعت نه هېڅېدونکې ترانې او سندرې ترې نه را اوزېږوي. یقیناً چې هم داسې به کېږي.

په درنښت درناوي

اظهار الله اظهار

لیکچرر اردو څانګه اسلامیه کالج

پېښور یونیورسټي

نېټه ۲۱/۶/۲۰۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حوالې

| | | |
|---|---|---|
| ۱- | اظهار الله اظهار | راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي |
| ۲- | اظهار الله اظهار | کاڼي د ګل په لاس کښې خوندنه کوي |
| ۳- | اسمٰعیل ګوهر | مسکا |
| ۴- | دیدار یوسفزے، ډاکټر | نسکورې لیمې |
| ۵- | سهیل احمد "مدیر" | هایکو انټرنیشنل (اقبال حیدر نمبر) |
| ۶- | شکیل احمد نایاب | "پلوشې" غیر مطبوعه |
| ۷- | ناهید سحر | خپلو خوبونو له تعبیر لټوم |
| ۸- | نواز طائر، پروفیسر | خوبونه خپل کلي کښې |
| ۹- | محمد ایاز غزل | د بنا ستونو د صحرا ورځې (غیر مطبوعه) |

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوئې مې دا ده چې بنده يمه ستا
برېت اخر اووايه په څه تا وګرمه
چې يوه ساه مې هم اختيار کښې نه ده

❀ ❀

د اخري رسول امت کښې يمه
اوس خو زما او د جنت ترمېنځه
بېخي قسم دے فاصلې نشته دے

Scanned by CamScanner

څوک به زما له حاله څهٔ شي خبر
یو نوی داغ مې په لمن پرېوته
چې د ګلاب څانګه کښې ګل ښکاره شو

❁ ❁

زهٔ د چا ملاسته غوا هم نهٔ پاسوم
ښیسې یېنې ځکه ستا د چم لېوني
ما په ازغو باندې راکاږې مدام

❁ ❁

ځې دې د ورانې اېښې غوندې دے
ښهٔ به وي دا چې درته ګورمه نه
څو به د ځان سرهٔ په جنګ اخته یم

دَ زلفو سیورو ته مې خوب کولو
چې دَ ښځې ژړا راپیاده شوله
په سرهٔ غرمه ترېنه راپاسېدمه

❀ ❀

دَ اسمانونو ورته سرخکته وي
ګل به کرم دَ محبت ، چرته چې
دَ ربل پاتلې دَ غر سینه پرېکوي

❀ ❀

څومره شرمېږي دَ ښائست مېرمنه
ورته چې ګورم په نظر دَ مینې
رانه دَ خوړ اوبو کښې ځان غوپه کړي

بې روزګاره چې يې بچی اوليدې
ويل يې ګرانه بابا غم مه کوه
بيا به تا فيانو پسې نه ژاړمه

❀ ❀

شيريني ژوند د شوګيرو نامه ده
خپله ځواني دې پرته چاوري نه کړي
د زوړ ديوال سيوري ته خوب مه کوه

❀ ❀

رب دې اباد کړي خپل کورونه په دوی
خو يو ژور سوچ کښې راګير شمه زه
پيغلې چې مانه اټوګراف اخلي

ا لېونۍ سره به اوس څهٔ کوم
وائي که شل ودونه هم اوکړې تهٔ
نو زهٔ به یُم ستا یو وِیشتمه ښځه

زهٔ چې ترې لږ هم لرې کېږمه نو
راپسې ژاړي دَ ګوډر غاړه کښې
ما دَ ګنګا په اوبو اولامبوی

په یو غورځنګ سره اسمان ته رسي
وه لېونۍ پېغلې په خود کښې اوسه
تا لا دَ زمکې تل لیدلے نهٔ دے

په زړهٔ کښې وایمُ داسې مړ به نهٔ یمه
چې مې د سینې چپې تر لرې یوسي
د ننګه غړې ئې نوره هم پوره شي

زړهٔ په یوه خندا لمبه داسې شي
لکه د اوړي د غرمې له تاوه
د ښار پاخهٔ کورونه اور اخلي

مینه په ځان ګواښي نهٔ رد کوي
تا باندې ښکله اعتبار اوکړمه
تهٔ خو د هر پېغوره تېښته کوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ دَ سپین لو کاروان ته لارمهٔ نیسه
په شا ستانهٔ کړه نظر ونه دَ ښکار
څه کور ته څه! چې ته سر توره نشې

❀ ❀

او ښکې چې ستا سترګو کښې اوچې شی نو
دَ شپې تیارهٔ مې اندېښنې زیاتې کړي
دَ اسمان ستورې رانه لار بدلوي

❀ ❀

درسره حقې شرې نهٔ کومه
څه ستا دَ خپس نه مې توبه شیرینې
خو راشه اوس دې رانه سپې کورې کړه

Scanned by CamScanner

پکار مونهٔ دي دَ فریب رنګونه
دَ سپړلي باده خپله لاره نیسه
هسې په مونږ پورې خندا مهٔ کوه

مینه په هر موسم کښې خوند نهٔ کوي
په سرهٔ غرمه له کوره مهٔ را اوځه
دَ پښکال تاوُ دې میراته نهٔ کړي

ستا دَ قامت سوچ مې شمله هسکه کړي
چې بازارونو کښې دَ ښار جینکۍ
دَ سنډلونو په زور قد لویوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د ژړا ارمان دې اورژي خو
دغه یو څو څاڅکي باران شیرینې
ددې وطن د زمکې تاؤ زیاتوي

❀ ❀

د سمندر سفر راياد کړه کښه
رانه چاپېره طوفانونه ووخو
د ډوبېدو راسره ویره نه وه

❀ ❀

کور کښې د سپر اوړو درک نه لګي
خوځان د هیچانه هم کم نه ګڼم
د وخت درې خمبیره لګي زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته وے مسافری مه کوه
لاړو دَ سر سپورے دې نم خاورې شو
دَ کور دالان دې پرېوتې اوخوړو

❀ ❀

دَ یوې پېغلې داېرې مې لوسته
ورته حېران شوم، ما یوه لحظه کښې
کښې برېنډې فرښتې اولیدې

❀ ❀

درد لا دَ اوښکو لار لیدلې نه ده
وژنې مې مونږ دَ خپل وجود تاووُنه
لا پشکال بارانې شوے نه دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ بې وسۍ داستان لا ختم نهٔ دے
ستا اواره خورې ورې زلفې هم
دَ چا مزدور په سر ورېځې نهٔ شوې

❁ ❁

ښکله مَړه شي دَ نسلونو لوږه
هر څهٔ بنهٔ دي تيږ دي خو غم دغه دے
زمونږ نه ستړې راپربوځي هسې

❁ ❁

•

دَ حاسدانو شمېر مې زيات دے بلا
درد چې سوا شي نو په نيمه شپه کښې
ستورې راپاسېږي اتڼ واچوي

Scanned by CamScanner

زغلمه ځم د پلوشو په اوږو
زه د دې خاورې سره مینه لرم
خو د اسمان فکر مې هم کومه

بنګړې دې مات دانه وانه پراته دي
له تانه زار، راسره ضد مه کوه
پرېږده چې فکر د روزګار اوکړمه

زمونږ د کلي بې اسروځه شولۍ
کور ته به رسو کنه لار کښې به مرو
هسې ټریفک دے او کچه لاره ده

ستې دې ښکرې د ځوانۍ تاوونه
وېمه چې ښکل دې کړم خو خهٔ اوکړمه
سکروټې نهٔ بږدمه په ښو نړو دکل

❁ ❁

ځوانۍ منم له موره کمه نهٔ وې
خو که زما په کور کښې کوټې وهي
هسې به ژوند د خپلې لور خاورې کړي

❁ ❁

ساه راکښي نشته خو خبرې کوو
لکه په زول کښې چې بجلي لاړه شي
او د پکو پرې تاوېږي هسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې وایه که زما په لیدو
د زړه درزا دې سوا شوې نه وې
تو بیا د استا غوږونه سره ولې دي

❀ ❀

د مینې کومه سلسله یاده کړم
د تیلې فون تلی چې اوغږېږي
وړم که څوک ماله په مرۍ غلې شو

❀ ❀

خوایږه د مینې راپېږ زوکړه هله
چې ستا بانه برند شي شیرینې زما
تو کېږ چاپېږ تورې مچې والوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک مې له ځانه حادثې کړې د ژوند
داسې مې هېر شې دښائست یادونه
لکه چې اور د ځنګونه ورانه کړي

❀ ❀

پېغلې ځواني دې، د سپرلي موسم دی
ستر ګې چې واړوې راګورې په شا
اسمان کښې پرق شي د یاران شپه شي

❀ ❀

فطرت ښائست هم د انسان زیات تو ي
چاپېره اوخاندې ګلونه د رنګ
د زړه پاټلې چې دغزر ه کښې اوځي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نه چې زړه ئې وننګينې نه ويستم
خو د فطرت ځنګل وحشي داسې دے
چې ښار ځانو له پناه ورکوي

❁ ❁

د خدائے رحمت هم امتحان دې کنې
چاکښې هم مينه وروروَلي نشته دے
دا د چينې اوبه چې کوم پله ځي

❁ ❁

خدائے شته مدام د ژوند سندرې وايم
زړه د بنسمنې چاسره نه کومه
ما د خودې چينې اوبه څکلې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا معجزه دَ محبت اووینه
چې دَ درد څرېکه په اسمان خورېږي
دَ اور بڅرې دَ باران څاڅکي شي

❁ ❁

سېلاب چې راوړي دَ ګلونو څانګې
دَ خوشبویو قافله لوټ شوله جوړه
اوس به دَ کوم تصور په دام ژوندي یو

❁ ❁

دَ نظرونو تماشې اوخوړې
دَ ارمانونو مې دنیا وړانېده
تا دَ رنګونو لوګې رانیوې

Scanned by CamScanner

اک یو تصویر زمانه سترګو کښې دے
ماله به څوک د خوب تعبیر راکوي
باران ورېږي او فصلونه سوزي

❁ ❁

د دې وطن فضا سپېره دومره ده
یخه هوا که هم راوالوځي نو
د چا غریب په خونه اور پورې شي

❁ ❁

آ لېونئ مې چرته قتل نه کړي
دومره خرابه شوه فضا د وطن
څوک په رڼو اوبو کښې ځي نه وېي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تپوس کوم خو خفه کېږې به نهٔ
دومره دې سترګو کښې وحشت ولې دے
ته که د ښکار سړو زغلولے نهٔ یې

کور ته ورځه رب دې سر تور نهٔ کړه
بې لوېشتې حُسن رسوا داسې شي
لکه چې رنګ د لوګي والوځي

د ښار مېړمنې خپل خاوند ته وېل
خدائے شته له تا ئې سترګه هم نهٔ وړي
ستا د دفتر چپړاسي ما تنګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته معلومه دَ دښمن توره ده
جرنده مدام کړځي په زور دَ اوبو
ته ترېنه لاس واخله نوهېڅ به نه وي

❀ ❀

که درته غین نه کوم تښن نه اوځي
پرېږده بې خونده دې دې ښه پېښم
ته دَ موکي په زور تمپونه وهې

❀ ❀

پېښ ندګلو نښته دَ خور او دَ لور
ددي وطن زلمي خو داسې نه وو
څوک مې دا زهر ګروي وينه کښې

Scanned by CamScanner

زۀ په ساحل د سمندر ورک شمه

د درد د زانګو سېل راوالوځي او

د اوازونو په مرو غلے شي

❀ ❀

دومره اوچت تو پوونه ځله ولې

زما خبرې ته هم غوږ کښېږده لږ

څوک دې الوړے اوږنده نکړې

❀ ❀

د سر پروا مېنه کښې نۀ کوم خو

دومره زما قتل اسان مۀ ګڼه

زۀ څه ويستلې اوږده هم نۀ يمه

پروت که د سلو پړ دو شاته یمه

د نظر پړق به مې در اورسوي

هوار د تندر په اوږو الوځم

❁ ❁

د خوشحالۍ بنیاد په غم وي ولاړ

زما په شونډو خندا خوره شي

لا د غوټۍ زړه خو چاودلې نه دی

❁ ❁

اوس خو به ستا ده چې راځي او که نه

شیریني ته چې مې په خنګ کښې نه ځي

نو پلوشې مې د سپوږمۍ سوزوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ روح زخمونه مو له شمس اووتل
مهٔ خوشحالیږه لیونی که په مونږ
اسمان دَ کاڼو باران تهٔ وروي

❁ ❁

څه ته مې زهر خوروه ویته کښې
خو چې زما دَ مینې زور اووینې
مرګ هم دَ نیمې لارې ستون شي زغلي

❁ ❁

اسمان بلنې دَ راتلو راکوي
ستورې ګډا کوي په ساز دَ مینې
څٔي چې سوارهٔ شو دَ هوا په اڈکو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب دې ژوندی لره خوشحاله اووایم
د کمتو کور دې زړه د کاڼي کړلو
مینه اوس تا بانـدې اش نه کوي

❁ ❁

شیرینې مه ځه د هوا مخې له
چې ستا د زلفو خوشبویه شي خورې
په اورکښې اوسوزې وړې مې د کملو

❁ ❁

زړه په بلا بلا مزې غواړي خو
طوفان دې، مه اوځه له کوره بهر
د خپلو زلفو دام کښې کېږه نه شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپوږمۍ له تاناه یو تپوس کومه
په نیمه شپه دَ سمندر ننداره
رانیسي ولې دَ اسمان لمنې

❀ ❀

دَ غټې غوښې نه پرهیز کوه لږ
وازګه دې ډېره په بدن اوخته
نیمبو نچوړ کړه دَ قهوې پیاله کښې

❀ ❀

دَ خودداری دَ اسمانونو مینځې کښې
ځکه زنګین مه جوړې خورمه زهٔ
چې ما جوړه دَ چا خوړلې نهٔ ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



که جذباتي شوې ځان به اونه مومې
د خپل رفتار تېزۍ د لاس لاندې کړه
اُس د ځوانۍ دې واګې اونه شلوې

❀ ❀

د زړه د درد منزلې سر خشکه شي
مینه روانه د اوبو غوندې وې
ژوند خو د داورۍ چم دے زر ویلې شي

❀ ❀

په سمندر کښې ډېر مرېز شي غروته
ته چې پستې پستې خبرې کوې
زړه مې د کاڼي په رنګ ټوټې اونه چوې

Scanned by CamScanner

یمه ژوندے ستا د لیدو په امید
وې د نمر د پلوشو سپوږۍ هم
تیاره څپېره په ګودر خوروي

❁ ❁

اوس خپل وس خپل اختیار کښې نه یم
ما چې رنګینې لوپټې اولیدې
د زاڼو سیل ځان سره یوړمه زه

❁ ❁

ستا د بناګُست لمبې مې مرې په زړه کښې
خپله پسته سینه کښې زور راکړه لږ
د ژوند دا شور مې چې ته کاڼے نه کړي

د ناز شمله به مې راټيټه نهٔ شي
نمر چې پرېوځي نو زما شيرينۍ
شفق شفق څادر به تا غوړوي

❁ ❁

تا چې تر منځه لوپټه اووېسته
سپوږمۍ زما او ستا شوې لارې جدا
ته په فانوس زهٔ په ناموس پسې ځم

❁ ❁

پوهٔ شومه اوس چې پښتنه پېغله يې
مات چې کړل ما ستا دَ زندان سيخونه
تا دَ پېښو پښې به ما خښې کړې

دَ پاغوندو باران لمبه لمبه کړم
زۀ لا په دې فرېب کښې ګېر ومه چې
دَ واورې غر لا وا نوستلے نۀ شي

❁ ❁

کله ګونګېږي دَ سندرو ژبه
ډېر که ئې غږونه په شا اوتمبوي
او درېږي نۀ دَ اوازونو سفر

❁ ❁

زموږ دَ کور چت که راځي په موږ
شکر په دې خېره هم اوپاسو
چې په تالا مېدان خو پاتې نۀ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حد نه نهٔ اوځم خو څهٔ اوکړمه
دَ هاغو نرمو ګلورينو شونډو
جوته چې اوځکمه جوته جوته شم

❀ ❀

اودرېږي نه دَ قيامتونو سفر
خو چې په کور کښې جينکې پېغلې شي
اواز دَ تندر غورځېدو واورمه

❀ ❀

څنګه شي ختم ازمېښتونه دَ ژوند
چې يارانو نه دَ سپېرلو کېږي نو
يوسې شيبې دَ لوکو رنګونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زۀ فالګې ته لاس په څۀ اوبنایم
ستا د تندي ګوتې لیدلي دي ما
زما د لاس کرښو کښې هیڅ نشته دے

❀ ❀

د کمپیوټر نه مې پوښتنه اوکړه
او به په ډانګ باندې بېلېږي که نه
دې کښې یو پلار په ځې ډزې اوکړې

❀ ❀

لا د ادراک منزل نه دې لرې یُو
یو نسې سترګو نه خوبونه زما
د ورک نظر تعبیر مې مۀ راکوه

Scanned by CamScanner

زما د قتل تور در پورې مه شه
ته چې په کوسه کوسه خاندې جینۍ
پام کوه ماته زاتړ غاړه نه شي

❋ ❋

کړې مې یوازې د مابنام تیاره کښې
چې خپل غرور ترې ننه لمبه پوره کړې
بیا مې په سره غرمه کښې سپورې نیسي

❋ ❋

دا چې د غر په چینه څه شوي دي
ستا د پېزن پښو شړنګ را اونیسي او
بیا مې تر لرې انګازې خوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهٔ به ډوبېږي په ساحل کورونه
چې خاموشۍ د غزالېو سترګو
د سمندر د شور بنیاد ایښی دے

❁ ❁

ستا نه قربان شمه زما شيرينې
تا چې زما په شونډو خوله ایښې وه
هاغې ېوې لمحې مې ژوند خاوُرې کړو

❁ ❁

د موسیقۍ لمحې خپله ژبه نهٔ وي
لیکنې مدام ستا سندرېز خیالونه
د ژوند رنګونه، تصویرونه وېشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاورې شم پوے دَ اخترونو په خوند
کشتۍ کښې ځې، شي له نظره پناه
او زهٔ دَ سیند په غاړه ناست پاتې شم

❀ ❀

دَ سروې اونه چا ته نهٔ ښیښي
ده قدرمنده په دا حال، کښي نو
نهٔ خو میوه نیسي نهٔ سیورې لري

❀ ❀

څه چې دَ ستورو په لټون کښې اوځو
را نه چا پیښ دَ سمندر او به دي
دَ جزیرو مینځ کښې ژوندون تېروو

Scanned by CamScanner

ستا دَ راتلو ښکالو خوره شوله جوړه
دي چې دَ ټول کلي غوږونه ولاړه
دَ زړهٔ درزا مې نوره هم تېزه شوه

❀ ❀

جوړه تېره تُوره دَ غرخېړه شي
راشي په منځې اوشلوي تال دَ بوړۍ
دَ پسرلو باران مې لا ژړوي

❀ ❀

دَ شين اسمان باران په شړق اوګکه
په کومه ورځُ چې دَ ګيډر وادهٔ وي
ښارسي په سس دې اونهٔ وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library



منه اوږده باڼه دې مه پرنده وه
ستا شاهيني نظر چې پوره شي نو
وايم که باز چرته مرغه اونيوه

❀ ❀

زه مختور نه يم شيريني زما
د اوښکو پړق مې ستوري هم تت کړي خو
تورې چشمې په سترګو کړې دي تا

❀ ❀

خپل احساسات مې په غور څنګ داسې کړي
چې د سرخکو سيل راپوره شي نو
زه د اسمان غاړو کښې وا لوځمه

Scanned by CamScanner

شیرینې څه! رب دې ودانه لره
ستا په کنځلو مې زړه نه بدېږي
ما د سیندونو روانې لیدې دي

❀ ❀

څه که یاران پرې د سپرلي ورېږي
چې د غرمو تاو ترېنه رس وېستی وو
د هاغو اونو پاڼې شنې نه شولې

❀ ❀

څوک هېر ولې شي د ژوند حادثې
هوا چې هسې پاڼه هم خوزوي
وېم که جونګړه مې طوفان یوړله

وائې منمه چې سړے ئې شریف
خو ژوند هم ځان له غرقولے نهٔ شم
ستا نه خو سترګه دَ چا هم نهٔ ړي

ستا په سر کلي سره شر کړمه، خو
بې وجې څنګه چاته لاس واچوم
اوس څوک په اوچه هم لامبو نهٔ وهي

د هر لوے عذاب دے دَ احساس محرومي
زهٔ خو څهٔ ستا لار کښې ولاړ نهٔ دمه
تا دَ موټر هارن په څهٔ اووهٔ

زهٔ د دردونو د صحرا تنده یم
ساه چې مې کله په وتو شي نو بیا
خداے شته له شرم نه اوبهٔ اوبهٔ شم

❁ ❁

د تعبیرونو په فریب تیر وتم
ما چې په لاس کښې لنوکۍ اونیوه
نو د ښائست رنګونه ټول والوتل

❁ ❁

جوړ کړي قیامت د لوږو الوتل
ستوري راکوز شي د ګودر په غاړه
او د اوبو څاڅکي اسمان ته رسي

سوړ کښې شې ورکه چې وریاد شمه زهٔ
ډېر موټې په لاس تې وې ته ناسته وې او
چینلې هسې بدلوې لېونی

که دې په زړهٔ کښې وې ارمان د مینې
هلته راځه په بېړه بیا ځرته چې
دَ پوخ سړک نه کچه لار بېله ده

دَ سمندر طوفان مې ځان سره وړي
ستا نرګسي سترګې رایادې کړمه
پورته دَ ستورو چم ته اوخېژمه

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُسن دَ مینې په خوند څه پوهېږي
ستا دَ یوې خندا نه زار شیرینې
خورې ورې دَ کهکشان سلسلې

❀ ❀

اوښکې دې اوچې له بڼو کړه کښېنې
دا دَ احساس چپه به تا ورکه کړي
غمې ښیندۀ مه دَ صحرا شګو کښې

❀ ❀

ځان رابرڅېره کړی دَ زړونو درزاء
دَ محبت اٰواز خو نۀ ورکېږي
اوس هم فضا وراٰني زموږ سندرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاږهٔ خاپونه دې زما شیرینې
نوې دلدل کښې دَ ژوند خخه نه کړې
څه رانسکاره کړه چې یو لار را وځې

❁ ❁

اوښکې خو کانړو کښې هم لارې کوي
خو چې نرمې پکښې را تغلې ذره
دَ اوچې دم دے څوک ئې څه اونیسي

❁ ❁

زړهٔ مې یو درز کړې چې دَ کلي غریب
بیکړې تک وهي اور اونګوي
په نیمه شپه چرته قیامت رانشي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تک ورکول خو وي فطرت د لـړم
خدای شته چې یو ورځ به دې مړ کړي په چا
د دې لور څه فرشته خو نه وي

✿ ✿

ساه چې د وختاجیس ته راکاږي څوک
داسې د زور سیلۍ را والوزي چې
په بله واړوي د چم کورونه

✿ ✿

کاڼي د غره له سره اورغړوي
چې مخ په لاندې ځي کورونه وران کړي
خو د طوفان د زړه نه تاو نه اوځي

Scanned by CamScanner

تهٔ چې د سیند په غاړه کور جوړوې
ډېر مبارک دې شه زما تسیینې
خو که سېلاب راغی نو بیا به څهٔ وي

❀ ❀

ښځو ته اوګوره چې واګې شلوي
د کټ په لنګه ئې بورقه پرته وي
په یوه خپه کړې په ټول کلي کښې

❀ ❀

خو ښه دې خپله خو وېښ مه زهٔ
تا د کولال هنر بې لارې نهٔ کړې
جوړ د یوې خټې نه ټول لوښي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا تورې سترګې ځنګه هېرې کړمه
ما د زړه زړه په اوبو هم اووینځه
خو د لمنې داغ مې هغسې دے

❀ ❀

زړه چاته سپک کړمه شپېږنې زما
د راز خبره درته ما کوله
خو ستا د خولې پرغولې هم نشته دے

❀ ❀

څوک هم د ژوند په خوږو پوهېدلې شي
لکه د ګلې د تماشګې مزدورې
څه د اوړو څه د بوټو اورسي

Scanned by CamScanner

تا چې پرې شل کاله خوارۍ کړې وې
هغه تصویر مې کباړي بازار کښې
په یوه نیمه روپۍ واخستو نن

❁ ❁

تپوس کوه مه، دَ ځوانۍ دَ مینې
خو په سیلۍ کښې بادیوه اوخته
او دَ یو چیک سره ئې تار اوشلوُ

❁ ❁

زما په خپل زړهٔ باندې وس نهٔ رسي
خو چې درځمه ستا دَ چم په اړخ
تهٔ دَ هوا خپو کښې زنځیر اوتړهٔ

ټک شي عذاب د اسمانونو په لور
لمسې چې هم راته سپوږمۍ اوخاندي
ستورې مې وریت کړي په چابک د رڼا

❁ ❁

دا د فېشن جهالت لهم اووینه
ا چې الف ته لهم کوتک واخي تل
د کتابونو ستهال کښې ګرځي مدام

❁ ❁

خوب ته مې نه پرېږدي د تن زخمونه
ژوندے احساس مې تر سحره پورې
د ستومانۍ ویستو سزا راکوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وفايي کښې دې هيڅ شک نشته خو
ساه مې او باسي دَ الفت سادګي
زر درله جوړه دَ اوړو پوزه کړي

❁ ❁

سمېږي نه زمونږ دَ ښار جينکۍ
که ترې چاپېره ديوالونه تاوُ شي
او ښاندي زر دَ کور کړکۍ بېړته کړي

❁ ❁

حُسن په هر رنګ کښې قيامت جوړوي
زلفي چې وارږوي له مخه په شا
دومره رنها شي چې نظر او سوزي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې د شپې کوردته ناوخته ځمه
اووائي رب دې ځواني مرګه کړي ما
جانه! چې بیا ستا نه کیلی نه کوم

❁ ❁

تل مې تېر یاسي د الفت په فریب
بد دې بلا د تورو سترګو ازار
زړه په شینتغه بنځه واورېدمه

❁ ❁

وایم چې بنکل دې د تندي کوبجې کړم
زړه کښې چې هیڅ د مینې تاو نه لري
مړاوي به څه شي د کاغذ ګلونه

Scanned by CamScanner

راته رایاد ستا د لمبې خوانږه کړې
اوس چې د هر چا تیلي فون راشي نو
خدایږګو زما د زړه درزا تېزه شي

❁ ❁

شیرینې زړه دې لاندې باندې نشي
اچې توتې تمانچه کړ خوې
خدای شته ویرېږې له هاګې د ډزه

❁ ❁

ستا د خپلوۍ ارمان مې هم اورېږېږ
خو ساه چې اووته د ګل د زړه نه
نو سرتور سر مې خوشبوې اولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدلې نهٔ شي دَ بناسُت رنګونه
تهٔ ګوره ګې دَ فطرت لاسو کښې
دَ موسمونو په فریب تېر وځې

❀ ❀

یوه لحظه چې هم هوا بنده شي
دَ زړونو شور دَ غوږ پردې اوشلوي
ما دَ خنګل طوفان کښې مهٔ ګېروه

❀ ❀

دَ طوفانونو زور په شا تمبوي
دَ محبت یوه نازکه خندا
له تاترې دَ سنره هم پورته ده

Scanned by CamScanner

دلته څو چغې هم ګونګې شي په خوله
د اوازونو دا ویجاړ کلے به
د خاموشۍ په ژبه څوک پوېږي

❁ ❁

خوند کوي څومره سوزېدل مینه کښې
چې سروې پېغلې مې نامه اخلي
اورونه واخلم د چنار اونه شم

❁ ❁

څوک به دې اووژني د خپلې ویرې
اوُ به خورې سر چې ازمرے نهٔ يې تهٔ
هسې غرمبېږې د لومبړ بچیه

خدای شته هیچا ته ملامته نه یم
که د مینې په تول روان یمه خو
د خپل رفتار سلسله نه ماتوم

داسې د هر ستوري لټون مه کوه
پام کوه کور دې غرغنډې او نکړې
اور ونه کړې د رڼا جامه کښې

د فطرت ناوې څومره ظلم دے دا
ځان ته غاوره شي د نمر پلوشې
په چا رڼا کړي، څوک به اور سوزوي

ستا خود سرۍ خو په ما سر ګرځوي

که چنګښې ته هم کوږدن شولې ته

په چم محلت کښې به حلوه اووېشم

❀ ❀

ښېرازه پېغلې د واده نه وروستو

خوند داسې داړوي تپوس مه کوه

لکه کټوۍ کښې چې کبان پاخه شي

❀ ❀

حد ماتول وي هسې ځان درکول

آخر به ماته شي يو ځل به اوکړي

څو به هوا په پوکنۍ کښې پوکې

بیل چاله ورکړه دا بچې غمېزه کېنې
دَ خاورې خوند زما په خوله کېنې دے لا
زهٔ ستا دَ کوږې په خوږوخهٔ کوم

اوس که څهٔ وایم ګنهګار به شمه
هسې په ما باندې تهمت نګوي
خپله خندا دَ ګل په وس کېنې نهٔ ده

نولے چې مار له په مرۍ غلے شي
دَ غوږ پرده مې دا اواز وشلوي
ژوند ګوڅاګے دے دَ فطرت لاسو کېنې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زغملې نه شي د څوانۍ زورونه
د سمندر دا کم ظرفي اوويېنه
په يو غورځنګ باندې اسمان ته رسي

❀ ❀

چې د ځېږي ژړا رايادې شوله
زه ستا د لارو نه واپس راغلمه
بيا مې ځنګل ته ازمرے اوشړه

❀ ❀

مسافرۍ دومره اسانې نه دي
چې ځکروونو کښې د ژوند راغله نو
سپوږمۍ ته ګوره نيمه پاتې نشوه

Scanned by CamScanner

په نیمه شپه ستا د راتګ انتظار
پروت یم بې وسه د اسمان د لاندې
لا دې په ما باندې څلی جوړ وي

❀ ❀

لوټه مې مه د دلاسو په فریب
پروا مې نشته که له تندې مرمه
دا له غلبیل کښې اوبه مه رانیسه

❀ ❀

چې معمولي تبه په ما راشي نو
ویښه مې ناسته د پالنګ سر ته وې
په سر مې ټوله شپه زورونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو قید کېږي نهٔ راځي عشق
که دَ ښائست جوبن دې تېر شو نو څهٔ
مړاوي لا نهٔ دي ستا دَ یاد ګلونه

❁ ❁

د ښائستونو ئې بلا واخلمه
چې په دروغه ترېنه هم خفه شم
خوب ورله نه ورځي بیا شپې رڼوي

❁ ❁

ما ئې تر مینځه روغه رانهٔ وسته
زهٔ دواړو ډلو خپل دښمن ګڼلم
لاړ په پردي ښر کېږي سر اوخوړهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو درد دې لي پښتون ماته ویل
ما دَ مرانې انجام هم اولیدو
څکه ویښ په مه دَ خپل سپورې نه

❁ ❁

خدائے شته چې مرګ موهم ورلے نه شي
چې موشینډل سر ونه، لارکښې دَ حق
دَ کربلا تاریخ مو بیا نوے کړو

❁ ❁

را ټیټ هم دَ اسمانونو غرور
په سر مې توره او ښانده ده خو
دَ سر بازۍ لوبې مې پرېښې نه دي

Scanned by CamScanner

ژوند دَ فرېب صحرا کښې نهٔ تېرېږي
زخمي احساس به اخر چرته اوړم
ستا دَ تصوير سترګه ړنده اوخته

❀ ❀

دَ حبس نه مړهٔ نهٔ شو شيرينۍ زما
تازه هوا به اوس په کومه راځي
هاغه يوه دروازه هم پورې شوه

❀ ❀

شيرينه دا هم اورېدلے نهٔ شي
ورته چې وېم زما برقي خوښه ده
زر شو نړۍ او ځيګي انګن ته اوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مې سپوږمۍ تندر نیولې ده جوړه
پړ ده کښې نغښتې پلوشې دَ نظر
زما په زړهٔ باندې تیارهٔ راولې

❁ ❁

ځان ترینه تل په فاصله ساتمه
خو بیا چې هم آرام ته نهٔ پرېږدې ما
زړ دې وادهٔ شي چې ترې خلاص شمه زهٔ

❁ ❁

منه دَ طمعې کور خالي وي منه
څهٔ په جرګو باندې صحرا ته دَ ژوند
باران چې راشي نو طوفانونه اوړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دَ رقیب په خوله باور مهٔ کوه
چرته په خر باندې هم ناسته نهٔ دهٔ خو
وائي جهاز کښې مې سورلې کړې دي

❀ ❀

دَ پېغلتوب پېچې راپارې نهٔ کړې
بلا موده اوشوه شېرينې زما
چې هر وخوله مې په خوله اېښې نهٔ ده

❀ ❀

دَ ناوې توب نخرې دې نهٔ منمه
مهٔ وېښه پلار کره دَ تلو خوبونه
اوس خو دَ شلو بچو مور شوې نهٔ

Scanned by CamScanner

آ دَ طلاق دَ نوم نه مرګ ښه ګڼي
خو آزادي یې دومره خوښې دي چې
چرګ چې هم بانګ اووايي بام ته رسي

❁ ❁

هاغه خوبونه ما نه هېر نه دي لا
لاس چې به تا په سينه کېښودلو
او کوړکو چرګو به هاګۍ شاربلې

❁ ❁

نور مې ماتم په بې وسۍ مه کوه
ستا په بڼو چې اوښکې اوښکې شي ژوند
شغله شغله ستوري په ما پرېوځي

که ئې ګواښونه دَ نظر لیدے وے
نو مشرانو به وئیلے نهٔ وو
جنګ نهٔ بائیللے نه ګټلے بنهٔ دے

نهٔ مې رانیسي او نهٔ ځان راکوي
دَ مـداري لور ده شیرینه زما
پړے راست کړي پړے راکاږي بیا

چې خپه نیولے راته او دړېږي لمن
نو دَ بناښت سپړلي تلوار اونیسي
خانه بېدوش شي چرته کړه اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېسې سیند خوځاڼ کوی نهٔ شم
یوه دَ مینې سندرېزه ځپه
اوبو را اوړې وه اوبو یوړله

❁ ❁

شیرینې څومره زړهٔ راښکون ووېکېنې
تا مې مرۍ باندې څادرهٔ راښکله
او ما دَ نوې ژوند تصویر ښکلوٌ

❁ ❁

سوچ مې کاوٌ څومره بې رحمه دے ژوند
بیا بوکړه مې کړې دَ سیند په سینه
بیا راله یو لحظه کښې سر ماتوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ګلونه مې راوړلي وو خو

چې ته راغلې نو شـــیرینې زما

کاڼو په ما پورې خندا اوکړله

څه خوندور دَ مینې جنګ دے کنه

زهٔ چې ترې پورته په کوټه اوختم

ا دَ انګڼ مېنځ ته راکوزه شوله

دَ مخ سرخي مې په اوبو لاهو شوې

داسې بدل کړم ازمېښتونو دَ ژوند

لکه چې سرو سره پاره اوکي

Scanned by CamScanner

منافقت دَ ژوند وژلمه خو
نن چې ماشوم یې په مخ ښکل کړمه
ما وے که مانه قرښته جوړه شوه

❁ ❁

دَ چهت پکے بې حده تېز تاوېدهٔ
چې ورله مخې له مرغۍ ورغله
ماته ئې خپلې بې وسۍ یادې کړې

❁ ❁

ښهٔ ورته پته ده خو غږ نهٔ کوي
اُف دَ کوچوان کاکا تهانګهٔ کلې کېږي
لره ورځ څومره حادثې زېږوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو امکان مې د خپو لاندې د ې خو
چې ستا اوږده باڼه را برند شي په ما
د خپل ایجاد لاره کېنې خنډ جوړ شمه

❁ ❁

د لوګو مینې مې ژوند خاورې کړو
چې د رنګونو تماشې له تلمه
نو د بنا ئست کلي کېنې سپو مات کړمه

❁ ❁

لوبې کوه نهځې درته غږ نه کوم
ستا د فریب فریب بنائست نه لوګې
زه دې د ژوند په حقیقت پوې کړمه

Scanned by CamScanner

ویم که څوک ماته اوازونه کوي
په نیمه شپه رانه خوبونه تیښتي
بیا به پېریان بوتل کښې نهٔ بندوم

❁ ❁

چې مې د سترګو نه راغلې وو خو
چا راته وېل تا ئې صفت کړے دے
ځکه په خپل تصویر مئین شومه زهٔ

❁ ❁

دغې چکر خو زمانې اوخوړې
ستا د رفتار مخه نیولے نهٔ شم
ځم چرته ځان له بله لار ګورمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته چې زما په شا ولاړه وې نو
زه د خپل ځان نه خوزېدلے نه شوم
ستا بېلتانه مې ځکه ملا ماته کړه

❀ ❀

ناوې زما مانه خوشحاله څه شي
کش چې شي تنزه مې درزاء شي د زړه
د بنا پېر و وطن کښې ژوند تېروم

❀ ❀

خپله خپل ځان راټولولے نه شي
د اباسين چپې به هېرې شي ستا
که دې رنګونه د اظهار اولیدل

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای شته په تا باندې مئین یم خو
مینه د نور و سره څه کوم
د ژوند ډرامه کښې مې کردار دغه دے

❀ ❀

ستا لو پېټې ځان کښې را نغښتے یمه
چې د سفر په نیت روان شمه نو
د هرې لارې په سر تا او وینم

❀ ❀

زۀ سر د لاندې را کوزار نۀ شمه
نن د ژوندون د کوهِ قاف لارو کښې
ستا د وجود خوشبوۍ رقص سکوی

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره کم ظرفه د فطرت ناوې ده
ته چې په لېو کښې اوبه راکوې
واخلمه اور تنده مې لا زیاته شي

❀ ❀

وایي د خپل زړه نه مجبوره یمه
که ته مې اور ته هم وراچوې نو
د واړه لاسونه به دې زړه ښکلوم

❀ ❀

د سپو نه ځان خلاصول گران خو نه دي
بس یو هډوکے ورته واچوه نو
دوي به پرې خپلو کښې جنگونه کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ موسمونو اعتبار خاورې شو
دَ امتحان مرحله تېره نهٔ ده
چینجي غونډېږي دَ کابل مېوه کښې

❁ ❁

په خپلو وینو ئې لاسونه سرهٔ وو
یوې ماشومې په سلګو کښې ویل
توبه، نکړیږې به بیا نهٔ غواړمه

❁ ❁

زهٔ به دَ څهٔ نه توبه اوباسم
یو خوا رواکارونه نهٔ کوي څوک
بل خوا حیا راځي شرمېږمه زهٔ

Scanned by CamScanner

ځان به په اوښکو کښې را اونغاړمه
د ګلاب پاڼه به کشتۍ شي زما
بیا د سیند په سر هوار ګرځمه

❀ ❀

سمندرونه مې خوټېږي زړه کښې
په دې طوفان کښې چرته ورکه نه شمه
ته مې یوه اوښکه لیدلې نه شې

❀ ❀

زه چې د خپل ښځې ژړا اووینم
هیڅ په ځان پوې نه شمه پاسه زر
ځان د مور غېږې له ور اورسم

بس خو ایمان دې خدای نصیب کړي زما

زه نه ولي یم نه پیر فقیر یم

زما په قبر دې میلې نه لګي

❁ ❁

لمېځ دې دَ مینې په خوند پوه نه کړمه

ستا نازبینتوب له سره خلاص نکړی ما

پاسه دَ مور خوا له دې ځان رسوه

❁ ❁

دَ لوږې تندې نه به مړ شې اخر

لمڅې سپین بږیري مزدور ما ته ویل

دَ لوږو ګټې ته خو لاس نه نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم د ځان سره دهوکه ده یوه
اوري بېچې چې مې په خوب اوده شي
لاړې مې تېرې شي زه ساه واخلمه

وايي زه خپل پالنګ ته ځان رسوم
نوره بېخي ایسارېدلی نه شم
ستاسو کتهونو کښې کېمل شوي دي

زه له دروغو نه نفرت کومه
خو له وطنه چېرته اوتښتمه
خلق مې وژني که رښتيا وايمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته د کور لاره هم یاده نه ده
تا چې ورونه د زندان لرې کړل
اوس به د زړه دردونه چېرته اوړم

څه که د شپې د بلا خوله وازه ده
خو زما لارې له راتللې نه شي
زه ستا د سترګو په رڼا پسې ځم

دلته په یو حال کښې هم خبر نشته دی
خو که چې له غاره د نفرت راووځي
د محبت توره یې سر غوڅوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



را باندې پوے دہ ځکه مخ واړوي
که خپل غمونه يې پېرزو کړل په ما
مړ به له ډېرې خوشحالۍ نه شمه

تا ته ګناه نشته شيرينې زما
که ازمېښتونو نه په شا شوې دَ ژوند
چا په تو ده زمکه قدم ايښے دے

ديو اکانۍ ده ټول دَ مينې جهان
اوږ دهٔ بانهٔ چې اورکي پاسوي
ستورې په نيمه شپه اتڼ واچوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساه دانه اوښه څې ویرېږمه زه

چې ستا تصویر سره خبرې کوم

مانه زما د زړه درزا، هم ره شي

❀ ❀

ځان چې په ماهسې کوڼ کړې دې تا

آخر به خپله لاره واخلمه زه

تر څو به تا ته اوازونه کوم

❀ ❀

چې ئې د زنې خال ته ګوتې نیسم

شیرینه ما باندې راسره غونډې شي

وائې زه سپینه یمه توره نه یم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما تصویر ته په ژړا کښې وايې
دَ تورو غرونو پناه شوے يې خو
ستا دَ راتلو خوبونه اوس هم وينم

لور چې اوده شوله زما غېږه کښې
راسره غم شو ما ويل ځان سره
ستا پېغلتوب راته خبرې اوکړې

کښې نو ما په څه څه نهٔ وو کړې
خو دَ رښتو مينې کښې راګېر داسې يم
خوب هم په خپله خوښه نهٔ وينمه

Scanned by CamScanner

رب به دې روغه کړي شيريني زما
ستا بيماري که ډېره هم لويه وي
دَ رب دَ فضل وړاندې هيڅ هم نهٔ ده

✿ ✿

دَ ذهنيت نه يې خبر يمه بنسهٔ
رقيب چې ستا په حقله سوچ کوي نو
دا په ډېران اُګر بتی بلوي

✿ ✿

زهٔ به ورځم دَ حاجتو مخې له
که مې دَ ژوند اوربشه پاتې وي نو
دا تندرونه ما وژلې نهٔ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویړوي د دروغژنو رښتیا
چې په اسمان کښې بجلی برق اوښي
نو طوفاني شپه نوره هم درنه شي

❀ ❀

څه نه تورې په لمن پورې شي
څو کورونو ته هم سیئب اونګي
چې د اوبو وتلو لار بنده شي

❀ ❀

کومه ښکلا دې وایه اوستایمه
ستا اننګي چې مراوي مراوي شي نو
د موسمونو نه خراج اخلي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دَ سپرلو په ذکر نهٔ تېرېږم ځم
وارړه رنګونه چې راټول شي په ځلے
نو ترېنه ستا یوه ادا جوړه شي

❁ ❁

ځه خپله لار نیسه پروا مهٔ کوه
مانګے چې ځي دَ اوازونو په لور
نو سمندر ترېنه کشتۍ ډوبوي

❁ ❁

توره او ډال به غورځولي وو ما
خو چې غښتلي دَ حالاتو شپه نو
چاپېره پړق دَ اورکو اووینم

Scanned by CamScanner

چې د بدن ورېږې دې ښکل کړمه نو
بیا د ګلونو بڼ کښې نه ځائېږم
ما لولکې ځان سره والوزوي

❁ ❁

داسې د ګلې د چینې په غاړه
چې ستا ښائست داله اواز راکوي
زما سندرې به ګونګې څنګه شي

❁ ❁

په خاموشۍ باندې ئې مه تېروځه
د فرېبونو مرحلې غوڅې کړه
چې زور پرې راشي نو اواز به کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه شوې د کلي او د ښار فاصلې
کمځې پرانستې جینکۍ را اوځي
او طوفانونه سر راپورته نه کړي

❀ ❀

نمائشونه د جلوو مه کوې
زمونږ د کلي دا کچه کورونه
دې طوفانونو ته د ټينګې نه دي

❀ ❀

څوک تر ښه سترګې پرانستلې نه شي
زمونږه چم ته د سندرو په ډاډ
هوا راوړي د لوپټو سېلونه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ چې ریښو ته بانديې چنل بدلوې
شیرینې دې سوچ کښې راګیر شمه زهٔ
دا سلسلې دې رانه ورکه نهٔ کړې

❁ ❁

اوس مې تصویر هم پېژندلے نهٔ شم
پر دو درشلو مې نظر یو رلو
زهٔ دَ خپل کور په دروازه تېروځم

❁ ❁

اُ دَ باران شپه دې جوړه هېره کړله
کچه کوټه چې څڅېدله په تا
او تا زما دَ کور زنځیر شرنګوهٔ

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کښې اک یوازې ناست یمه زه
د کتاب پاڼې اړوم په مخه
اوس مې په سترګو څوک لاسونه نه ږدي

✿ ✿

اووایې ستا خبرې نه ختمېږي
مور به زما مېراته پاتې کړي ما
څم چې کونترو ته دانې واچوم

✿ ✿

بې شکه ته يې زما وهم ګڼه
خو زه په هیڅ هم باور نه کوم
ما د ګنجې لاس کښې ګو منځې لیدې ده

Scanned by CamScanner

ما په مرګ د غوا چاړه را ښکله

خو چې مې ستا او ښکو ته پام اوکړونو

خدایه شته زما نه کلمه هېره شوه

❁ ❁

زه به د دریو پوړو هندسې شمارمه

ته که د خپل مدار نه اونه وتې

د خپل خاوند سر به دې غوڅ اووینې

❁ ❁

وایم چې شل درزه دې زه اُولم

توره چې لاس کښې د دښمن ورکوې

بیا ترې د سر خېر ونه غواړې ځله

قاتله ته که ما وژل غواړې نو
بسهٔ په اخلاص راسره مینه اوکړه
زهٔ په ګواښونو دړکو نهٔ مرمه

❁ ❁

زهٔ په الوتې لوګي پسې تلم
لا رانیسوه مې چې ازاده مې کړه
ما دَ مرغۍ خوله کښې مُلتې اولیدهٔ

❁ ❁

اوس مې دا خوږ وجود راټول څنګه کړم
چې ځانګې پکښې ولاړه وې تهٔ
نن مې هم هاغه ائینه ماته کړه

ذرې ذرې شې دَ ښکارې تښو پکه
ساګانې اوڅې له تنګو پېغلو نه
ته چې دَ زانو په سېل ډزې کوې

خدای شته چې ځان به په خمار اوچېم
خو که مې یاد وې دَ ښائست مېن منې
ستا په کمڅو کښې به ګلاب نه ږدمه

هرڅه چې کېږي خو لندن ته نه ځم
دَ خپلې مور یوې خندا نه به زه
دغسې شل شل پی. ایچ. ډي. زار کړمه

دا حادثه هم معمولي خو نهٔ ده

پېغلې چې ما سره تصوير ويستلو

ګوره زما کمره کښې ريل ختم شو

ګام تر ګامه څنګه په خفګان واړوم

لکه دَ بُت مې ځان ته کلک اودروي

يوه لحظه کښې دَ پېرو قيصه ده

شيرينې تا چې ورته ګل لېږه کړو

سيند خونړے شولو، په واک کښې نهٔ دے

دَ ګلې سرهٔ خوله ماشومان ډوبوي

څنګه راغلې يمه ستا کلي ته
شيرينې هيڅ رانه تېروس مهٔ کوه
ما دَ خپل زړهٔ دپاسه خپې ايښې دي

سر چې مې غوڅ کړې نو شيرينه زما
وايې زهٔ دا دَ وينو کربښه ګودم
چې دَ درياب اوبهٔ چېرته اوړې

وه لېونۍ له کوره مه راوځه
چاپېره کلي کښې سيلۍ الوزي
په تا به لاړه کښې لمن واړوي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

چې ستوماني لړه ویستل او غواړي
هوا ئې پاڼې پاڼې خور کړي وجود
د ګل خندا هم حادثه ده د ژوند

❁ ❁

شیریني اوس او وایه څه او کړمه
ما د خپل زړه د غل نه ژبه پرېکړه
خو ماته بیا هم اوازونه کوي

❁ ❁

پرېږده چې دغسې دې خلق رټي
درته به کفت قدرې چا کړې نه وو
خو ستا په خوله کښې هم و ژبه نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې تنکۍ غوښتنې وس کښې نه دي
که تا پرې سترګې راویستلې وې نو
داړه به دومره په سر نه ووختې

❀ ❀

دا سادګۍ ئې نشې تور په لمن
ګوره چې تېز باران کښې بنګلې جینې
د لوپټې د لاندې ځان پټوي

❀ ❀

پلار دې زما بابا ته بنه کړې دې
که ته زما په خوله باور نه کوې
درشه د مور نه دې پوښتنه اوکړه

Scanned by CamScanner

خبره وړاندې نه پرېکړې ښه ده
داسې چې بوسو کښې اوبه بوځي نو
هسې نه ورسټو ترې لا نجه جوړه شي

❁ ❁

ته پوه نه ښه نه وې نادانې جینۍ
که لاس او خپه دې لږ هم شي خطا
بیا به د سترګو لګېدو نه اوځې

❁ ❁

د کلي دا دستور مې خوښ نه شولو
پېغلې کټوې په نغرې پرېږدي او
د ګاونډي کره تنور لمبه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آ چې اننگې کښې به څرقاوُکوُ تا
او زهٔ به تاسو کره درغلمه
نو څو مره ختې به تري جوړې شولې

❁ ❁

په زړهٔ کښې ځان سره کرم ربېمه
دې کښې به خاورې ستر کې ورشي زما
پالنګ چې تو له شپه څغار کوې ستا

❁ ❁

خاورې څوک پوې شي په خوندونو دژوند
زموږ وطن کښې چې سپړلي راځي نو
نو بړه دَ مينې په اوګو سورهٔ شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیمکو غونډې ژوندون دے زما
توره تیاره کښې پلوشې وېشمه
د ګلبدنو لاس کښې اور واخلمه

❀ ❀

نن یو سپین ږیري په ژړا کښې ویل
لونه مې تښتي ایساریږي نه اوس
بیا به طوطیان په کور کښې نهٔ ساتمه

❀ ❀

خاوړې به وده زما قام او مومي
اوس چې هم دلته راپورته کړي سر
زلمي یې څانګې په تبر ونو وهي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا خو دې سترګې غړېدلې نهٔ دي
د ژوند رنده به دې هوار داسې کړي
دا سترګې سپورې به له تا هېرې شي

❀ ❀

د ژوند يوې غرمې دې زور او بهٔ کړو
دا حادثې خو به راځي او ځي به
او لا خو ستا د زنې خال تازه دے

❀ ❀

يو د اتيا کالو سپين ږيرې بوډا
ګورې په ډش باندې بربنډ فلمونه
او ناست دے لاسو کښې تسبې اړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې دَ سیند په غاړه ناست یمه زهٔ
او دَ اوبو چپې راتاؤ شي له ما
وایُم که ستا دَ زړهٔ درزاء تېزه شوه

❀ ❀

ستړګې چې مانه اړولي دي تا
زهٔ دَ ساحل طرفته زور کومه
خو دَ دریاب چپې مې ځان سره وړي

❀ ❀

نن خو مې ټول بدن دړدونه کوي
شیرینې غېږه کښې مې کلک اونیسه
که ستومانۍ مې دَ وجود اووتي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ګل فروشه، زه مئین د ګلو
ستا او زما نظر کښې ډیر فرق دے
ته په شپېلي زه په شپېلو پسې ګرځم

❁ ❁

اووایې دا فضول خرڅه نه منم
هاغه میړمن مانه خفه ده په دې
هفته کښې دوه ورځې پاڅې خورمه زه

❁ ❁

ساده جینۍ ږې هسې ځان ولې خوری
هغوی د شمعې وجود څه او زغمي
څوک چې په ګلي کښې سکاره پیتوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې زلمي د ښار د پارک په خوله کښې
څومره د خپل مقام نه لاندې راځي
چې د موټر تورې شیشې څېړوي

❀ ❀

لمحې د ژوند د ونو ښتنې نه پېژنو
خدای شته چې سل کاله په ورستو لاړو
موږ چې یوه کښته کېږو وړاندې کړه

❀ ❀

دا بې حسي به ما نه ساه اوباسي
د ژوند احساس پکښې غوړځنګ نه کوي
ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



رو رو مې تانه اعتبار پاسېده

ستا محبت هم اخبارې بيان شو

دَ پروف خامې پکښې بلا ډېرې دې

❁ ❁

دَ ژوند په داسې مرحله کښې يمه

هر يو ماشوم چې راته اوخاندې نو

زما پرې مينه دَ بچو ماته شي

❁ ❁

چې يو طوطې مې بنديوان اوليدو

وېل مې کس جوړ په پنجره کښې شومه

رب دې وزرې دَ چا نهٔ پرېکوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په اسمان کوربې وريځې راشي
ماته د هاغې چم قيصه ياده کړي
چې اوسيدونکي ئې سيلاب اوړي وو

❀ ❀

خدائے شته د کورمې دروازه نشته دے
خو زه راکښېږه دې فريب کښې يمه
چې هوا کانې ماته ور ډبوي

❀ ❀

زړه مې درزيږي چې ئې اونه وينم
د سميه او د نعمان مينه مې
په خپل حسان باندې هم ماته نه شي

Scanned by CamScanner

په خیال اوباسه ستومانۍ شیریني
څه بې حجابه دي د نمر پلوشې
ستا تصویرونه په دېوال جوړوي

❀ ❀

درنې وريځې په اسمان شوې خورې
اوس د ځنګل نه په تلوار را اوځه
دلته د تندر غورزېدو وېره ده

❀ ❀

اے د رنګينې لوېتې مستې منې
ته چې اوده یې او سیلۍ والوزي
وېم که هندو را نه کشمیر یوړلو

د کودرونه د ښائست بلبله
چې د اوبو څاڅکي را اولي په ما
نو چارچاپېر په کلي اور پورې شي

❁ ❁

ته که سوره شوې د هوا په اوګه
خو د اثر نه مې وتلې نه شې
زما د اس رفتار به تالاندې کړي

❁ ❁

زه چې سر تور سر جینکۍ اووینم
په زړه کښې ځان سره کړم رېبمه
د وخت طوفان به مونږه چرته اوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له زما دَ سوال جواب راکړه ته
مېړمنې نيت که دې صفا وي دَ پېين
بيا په ويښتو ولې حضاب لګوې

تا چې زما په لاس دستخط کړے وو
داسې شو وران لکه درياب دَ کلي
ګڼه کورونه په اوبو لاهو کړي

ځان مې په اور پورې نيولے دے بس
که زما سوی ځي ته پام نهٔ کوې
ما سره هيڅ نشته ثبوت دَ مينې

Scanned by CamScanner

مینې د ژړې مازیګر کرښه زړه

تا چې سوې پوړۍ را اخستې کړمه نو

پوه نه شولمه کښې ژوندانه تښته زړه شوه

❀ ❀

غم زما زړه وراسې خوږه نه دے

وړې چې ځان پاندې خوار کړي دي

خو د خدا هسې چې زړه نه شولو

❀ ❀

دغه احساس به پوهېږو اوږي ما

پیغلې چې هسې هم تندي کړوي

وایم که ما ته سلامونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که زهٔ مرمه خو خوا ږهٔ به وېښم
یوې کمزورې د انار اونې نن
یو زور اور طوفان په شا تمبوُ

✿ ✿

نن مې جوړ بله خودکشي اوکړله
ستا لوپټې نه چې مفلر جوړ شولو
زما شمله نوره هم هسکه شوله

✿ ✿

دغه علت به تر پته خنګه اوځي
د بېدارۍ نغمه چې وایمه زهٔ
زما د قام زلمي په خوب اوده شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کاڼو ښار دے ګوري پام به کوې
بیا به خپل ځان راټو لولے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❀ ❀

دا خپل ښکاري قطرت به ما ړوبوي
چرته چې اوویښم رواني اوبهٔ
وېرم که په ژانو پسي منړې وهم

❀ ❀

ګوتې به مروړې بیا، خوښے به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچي دم دے ګوري
وه لوګی په فاصله تړې اوسه

Scanned by CamScanner

ژوند دَ بقا دَ اندېښنو مېوه ده
که دَ تخلیق شعور بېخي نهٔ لري
نو چرګه ولې په هاګو ناسته دي

دَ موسمونو جیس اوخوړې جوړ
دَ بنار ښځه بنګله چې، تهٔ پرېږدې او
دَ کلي شاړ کور ته تړې کړه کوې

نو دَ کېبل تارونه مهٔ خورَوه
زما دَ ژوند تصویر ترې نهٔ سازېږي
ستا دَ تهذیب رنګونه ما اولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کاڼو ښار دے ګورې پام به کوې
بیا به خپل ځان راڼو لوے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شې

❀ ❀

دا خپل ښکارې قطرت به ما ډوبوې
چرته چې اوویښم روانې اوبهٔ
وېم که په زاڼو پسې منډې وهم

❀ ❀

ګوتې په مروړې بیا، خوښې به نهٔ وې
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګورې
وهٔ لوګید په فاصله ترې اوسه

Scanned by CamScanner

ژوند دَ بقا دَ اندیښنو میوه ده
که دَ تخلیق شعور ښځې ته نهٔ لري
نو چرګه ولې په هاګو ناسته دي

❀ ❀

دَ موسمونو جیب اوخوړې جوړ
دَ ښار ښځه بنګله چې ته پرېږدي او
دَ کلي شاړ کور ته ترې کړه کوې

❀ ❀

نو دَ کېبل تارونه مهٔ خوږوه
زما دَ ژوند تصویر ترې نهٔ سازېږي
ستا دَ تهذیب رنګونه ما اولیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

له دې دغمونو نه بهر راوځه
لا که خبرې ې زده کړې نهٔ دي
دَ خاروني مخو که مهٔ پرېکوه

❀ ❀

چې په ځنګل کښې په ما شپې راغله نو
سپوږمۍ دَ اونو منځ کښې ځان پټ کړلو
ځان ته دَ چا سترګې رایادې کړمه

❀ ❀

خدائے شته زما دغه مطلب خونهٔ وو
ما چې در یاد کړو دَ مشکنو امیل
په تا نرۍ نرۍ خولَه راغلله

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا صحبت کښې مې خپل ځان کانړه کړو
لاس کښې مې هيڅ نشته شين ينې زما
تا له تجرې له کومې راوړمه زه

ستا سادګۍ مې زړه وړی، لېونی
ته له هغوې نه دَ خپل طمع کوې
څوک چې مدام کلي کښې سپي جنګوي

دَ انتظار لمحې قيامت وي ګلې
زه دا سې څاڅکې څاڅکې ويلې شومه
لکه ګلاب چې څوک په اور اونيسي

Scanned by CamScanner

چې ئې زما د پاره کور پرېښې وو

اُ لېونی دومره بې وسه شوه چې

زما کتاب په کباړي خرڅوي

دَ دوړو روغه اوس بلا گرانه ده

لاره دَ ژوند ترې بېله کړې ده ما

وخت په يوه ځي زهٔ په بله ځمه

نن يو بوډا ته اُيسنې اووېل

ستا دَ غوږونو وېښته هم سپين شو خو

اوس هم دَ پېغلو په خندا تيروځې

موږ د صحرا غریب کښې ژوند تېر وُ
خاورې سمون او خورې کارونه زموږ
ناست یُو مدام له شګو پرې غرو

❁ ❁

نهٔ زور منو او نهٔ زیاتے کوو موږ
واوره د امن په غریب کښې وُرکه
موږه د باز منبوکې نهٔ پرېکوُو

❁ ❁

تازه تازه وې د دالان سپورې ته
پازهٔ ئې مراوې کړې د نمر پلوشې
پېغلې زموږ د مینې پلانټ غونډې دي

ښکاره کوم ئې د ځوانئ رنګونه
زۀ د فطرت ناوې د لاسه نیسم
او په ډولۍ کښې ئې د خیال کېنوم

شیرینې ګرځم د کلام لارو کښې
چې ستا د ژوند غمې را یادې شي نو
د ګورو اونو بڼ کښې اور واخلمه

او منه سر به دې د خپو لاندې کړم
په هیڅ فریب کښې راګیرېږمه نه
زۀ د مارانو نسل ښه پېژنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څو ورځې وي برداشت به کړم
زهٔ دومره لویه سینه هم نهٔ لرم
چې تل به ستا ماشوم له پېره ورکوم

❁ ❁

زهٔ د ګناه بازار ته هم تلے وُم
خو چې د مور اوښکې رایادې شولې
توبه مې اوویستله واپس راغلمه

❁ ❁

لار پېکښې نهٔ مومې د نمر پلوشې
تازه هوا پکښې بېخي نهٔ لګی
د ژوند په داسې تاخانې کښې اوسو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په تشو کتو اور لمبه شي
خو هاغه وخت کښې د پښتو چرته وي
د ښار درزيان چې درله ناپ اخلي

❀ ❀

د اٻادۍ پکښې درک نشته نګي
د ښ مخانو اوازونه اورم
په ما په داسې ځاے کښې شپه راغلله

❀ ❀

اوس زه د کلي په ناموس باندې مرم
ما چې مې لور ښکل کړه په دوارو مخو
يو د رنا سېلاب کښې ورک شومه زه

Scanned by CamScanner

دَ پلوشو سفر دې وړاندې ځي خو
دَ ښائستو نو دَ سپوږمۍ انتظار
زما په مخ تورې حلقې جوړوي

❁ ❁

ستا په يادونو کښې مې ژوند خوندي شو
دا دَ درياب دَ سر نقشو به نهٔ دي
چې حادثې به ئې دَ ځان سره وړي

❁ ❁

شيرينې ستا خو ځلوبۍ خوښې وې
چې خپلې بدې ورځ تاه اوګورمه
نو زما سپوره نمرۍ هم اونغلي

هیڅ پابندي چې په تا نه لګوي
مخ کښې هر وکي راوتلي دي ستا
ته دَ خاوند آزاد خیاله یوړلې

منم چې ته ما سره مینه کوې
خو زهٔ دې بیا هم خپلولے نه شم
ستاسو دَ کور چار دیوارې نښته دے

هیڅ آزادي راته حاصلې نه شوې
وضاحتونو کښې مو ژوند تېر شولو
مونږه په یو بل اعتماد نه کوؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلې وېښل خپلو همزولو ته نن
چې د ښکارې د سترګو شمع مړه شي
هله په خپل پالنګ کښې خوب اوکړمه

❀ ❀

ته د کابل یوه ساده پېغله یې
زه خوشحال بابا چې نزدې راځي خو
څه! د بابا پوزه دې مه پرېکوه

❀ ❀

د ښار مېرمنې ته خبر یې که نه
د یو مزدور سترې ستومانه وجود
څو مره دمه شي چې ستا کوراوینې

Scanned by CamScanner

چې منډې ترړې مې د ژوند سترې کړې
سترګو ته ستا تصوير راوړاندې کړمه
زه د وختو نو له څکن نه اوځم

اوس زه پخپله په ځان شک کومه
ټول راته وائي بدعمله يې ته
مينې زما د څې ګونه ورانه کړه

ما دې په سر لوئې دعوې کړې وې
خو تا زما د لاسه لاس راښکلو
اوس زه په کوم تاخ کښې ځانګې واچوم

په شرق دې اولګي رسمونه د بنار
چې د کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما د هوسۍ کټ کښې ميلو اوليدۀ

څومره بسياره دے درياب د مينې
وېم که ما تخت د سليمان قبضه کړو
پېغلې چې تا ماله پاڼې راکړله

د يوې پېغلې به وسې مې وژني
تنده ماتېږي نه زما د نظر
ناوې که ټوله د کالو ډکه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ داته خاندې خوشینې زما
دَ ژوند له خپې نه مې باور پاسوې
ستا په کمڅو کښې چې ګلاب مړاوې شي

❁ ❁

دَ هر سپېلي دَ موسېدو نه مخکښې
موږ دَ نښتر دَ اونو کُر کړے وو
ددې سړک غاړې خالي ولې شوې

❁ ❁

بوټي چې دې لږ هم په اوږدو پرېوځي
لکه دَ چڼګې اواز نه کوي
تهٔ دَ تخلیق عذاب زغملے نهٔ شې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوره راغلې چې ساختنی له يې ته
سترګې له تا نه څکه نه اوباسم
چې دغه سترګې دې ويستل غوارمه

❀ ❀

زر ده چې شاړې شي ځېرې د کلي
اوس که زلمي چرته يو ځائې اوينم
خپله درنه او د بل سپکه وائي

❀ ❀

سر توري مه راڅه زموږ کلي ته
تا چې په کومه زمکه خپه ايښې ده
هلته د خلقو نه ځاي اوتې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ مرګ په خوله یاندې دَ ژوند زیري دي
هلته چې ستا سترګې اننګې اوبو شو
دلته دَ کاڼو نه شغلې اووتې

❀ ❀

دَ ښار بې حسه مرمرینې پېغلې
کله چې ستا بدن خوله اونیسي
ویم که څوک بُت دَ سومنات لامبوي

❀ ❀

یوې ښاري راته سنګوکینې ویل
تا ته زمونږ دَ ژوند پته نشته
هره دَ ښار جینۍ خرابه نه وي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ سمندر څپې شمارلې دې چا
زما دَ غم ما نه تپوس مهٔ کوه
چې ته حساب کتاب کښې تېر نهٔ وځې

❁ ❁

اوخاندې ماته، لېونۍ اووائې
ځان دَ ژوندون سختو ته ځکه نیسم
دَ غرهٔ لمنه کښې چینې را اوځې

❁ ❁

دَ احساساتو ژبه مهٔ کوشکوه
دَ خوشحالو اظهار دَ ځان دپاره
دا کسرا کانې ضرورې نهٔ کښې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مې د ژوند پنجره کښې بند لیدلو
چې د وجدان دروازه بېرته شوله
ما د زړګونو کالو لار سر کړله

❁ ❁

ښکه به حق د چارالاندې کړمه
ما د ډېل ګاډي د پایو منډه کښې
د یو مزدور د سر ټوټې اولیدې

❁ ❁

جوړې زما ضمیر په حق اورسېد
ګوره چاپېره اذانو نه کښېږي
خو د خپل ځائے نه هډو ړق نه وهم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولې له ئې نهٔ راوړمه ورږم کوې
تا چې د سود په مال خیرات کړې دے
په ما حرام شه، د خنزیر غوښه شه

❁ ❁

نصې بې ځایه اندېښنو اوخوړې
کڼې نو ستا نه کړې چا پسې شیرینې
قلا هم تاؤ ده او رنړا هم شته دے

❁ ❁

تبه که ستا سر ته ختلې نهٔ ده
پرېږده د مینې په جواب کښې به تا
د خپل کاکا زوے ته کنځل نهٔ کول

Scanned by CamScanner

اُف څه ټپه ټپه شيرينه وائي
دَ هائيکو نو ئې جواب نشته دے
څوک دې اظهار غوندې غزل اوليکي

❁ ❁

هره موقع دَ لويو ټوقو نهٔ وي
کار چې وران اوکړې نو نخرې مهٔ کوه
هسې نه تاله په مرګ غلې شم

❁ ❁

زما ناموس له هر څه مخکښې دے خو
دَ خپل قامت پروا دې هم اونکړه
دا مې په کم فهم کښې تصوير ځايوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما درته خپل خون دریخنبلی دے خو
دومره را اووایه ښیین یني زما
ته ُ مې دَ ژوند جواز په څهُ رد کوې

❁ ❁

څه لیونتیاري خپله لاره نیسه
ته ُ ورته څکنبې ورستو کیږئ ځله
سپې به په تا پسې زنځیں اوشلوي

❁ ❁

چاپیره کورم او قدم اخلمه
زهٔ دَ ناموس ساتلو غم کښې مدام
تل دَ بنکاري دَ سترګو لار څارمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا شخصیت دَ اوبو څک دے منه
څه که دَ خپل خاوند ناموس نهٔ شولې
بیا آخر ښځه ځان ته وائي په څه

❀ ❀

اَ چې له ورایه به ئې زهٔ اولیدم
او ناګهانه به ئې خوله ګوټکه شوه
اوس دَ طوطي په شان خبرې کوي

❀ ❀

وېم که څوک ما یاندې کوږې ورڅوي
دَ پښتنو ښځې چې اوویشمه
دَ ډکوکي دپاسه خپې واړوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم زما دَ سوي مخ شیریني
ښځې په تا باندې اثر نشته خو
ګل دې په لاس کښې پاڼې پاڼې شولو

❀ ❀

یو پنجابي راته پېغور کوؤ چې
اُ پښتنه پېغله مدام ما سره
دَ سیکس موضوع باندې خبرې کوي

❀ ❀

پېغلې چې نن ستا دَ دُرشل مخې ته
ماتې ټرندې دي دَ بکسونو پرتې
چا جوړ دَ خپله کوره غلا کړې ده

Scanned by CamScanner

د کائنات د زړهٔ درزاء يمه خو
چې ستا د سترګو رڼائي ته شي
وايم که غار کښې د تيږو بندې يم

❀ ❀

ګوتې چې شمارمه په سوچ کښې ورک يم
شين يې ماته ليونے مهٔ وايه
دا خو زهٔ ستا بې وفايې يادوم

❀ ❀

ستا د فريب له ژوند نه مرګ به ښهٔ ګڼم
د سمندر چپو ته ځان سپارمه
خو د کاغذ کشتۍ کښې نهٔ کېنمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هایکو ناوې خبره واوره
اوښکه زما دَ بدن تږوله وینه
خو زما قام ته اورکې پړقوره

❀ ❀

شېږ ېنې رب دې په امان کښې لره
ستا به دا اوښکې له ېنهو اوچې شي
خو زړه به ښاخکې ښاخکې ویلې شمه

❀ ❀

دَ موضوعاتو ښځې کېسې نښته خو
ستا دَ بنا اُست لمن چې نه پرېږدمه
په ژوند دَ مینې حکومت غواړمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر ماښځه نه پس دعاغواړي دا
ماته ئې کړې ربه دَ دښمن لاسونه
زما جانان ته چې تاوان رسوي

✿ ✿

واوره دَ خور او لور ناموس ساتمه
بیا داسې ما یاندې راڅپه نهٔ شي
کنې نښه کینې به دې سر پورته کړم

✿ ✿

دَ ښار او بو درنه لښه اووښته
شور چې شي ساز، په سوره ننوځي
تا خو دَ سر دپاسه سر نهٔ منهٔ

Scanned by CamScanner

اوس مې په سترګو باندې ښنه نه لګي
ستا ځانګېدلې پرتو غاښي خاورې شه
دَ مخ سرخي دې په اوبو يوړلې

❀ ❀

ته چې ځې ښځې خبرې کوې
زما جانان زما نيازبين ښځيه
وړم چې په دواړو مخو ښکل کړمه تا

❀ ❀

اوس راته خپل زخمونه ښائې څمله
چې په يو ځائې کښې ګړه وړه جوړ شي نو
بيا پکښې هر څوک په غونړ سکو لګي

اوس به سنګار له دځان چرته درومې
تاچې په کاڼي زما مخ ویشتلو
نو آئینه دې دکور ماته کړله

❁ ❁

پوزه دې پرې ما شه د قام لېونه
دا ته دَ کلي په دې شاړه لاره
اووایه هر مازیګر چرته زغلې

❁ ❁

دَ ژوند دَهرې کشالې سمون وې
لږ به دې ماته انتظار کړې وې
دومره دَ لوې توپ ضرورت خو نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمان ته رسم په غور ځنګ دَ مینې
ځان راته خدایګو شاه زاده ښکاره شي
ما چې شیرینه په پنړوس اولي

❀ ❀

دغه شعور ورله ورکړے دے چا
ښکاري چې کوته په کوترې کښې دي نو
پس شي له اونو نه مارغان والوځي

❀ ❀

ما دَ تاوان سودا خو نهٔ ده کړې
ورک چې دَ زلفو په ځنګل کښې شمه
دَ بینا سَتونو خزانې اوموم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ ښائستونو خوب که هم اوویـنم
دَ ازغکو ترنځې اوبـهٔ اوڅکمـه
لمبې دَ ځوانۍ په خوږوپوئےنه شومه

❁ ❁

دَ مـورولۍ جذبه دې ستایمه زهٔ
تهٔ چې پردې ماشومان هم اووینې
ستا له سینو نه دَ پیو دارې اوڅې

❁ ❁

دَ کور کارونه درته پنه پراته دي
غریبه پېغلهٔ سنګار مهٔ کوه
ستا په قسمت کښې شاه زاده نشته دے

Scanned by CamScanner

څه ناروا پېغله ده ماته وائي
ستا په سینه به ګوم منګولې
خو داسې کلک رانه مړوند مه نیسه

❁ ❁

زېږګې زېږګې، سلګې سلګې شیرینې
ما د پېښو پنجو کښې خوب لیدلو
چې ښ ځانو راته خولې وازې کړې

❁ ❁

ستا د رښتیا ځښ و تاب نه لرم
نور درله مخې له درتلې نه شمه
زه به د کوم کوم سوال جواب درکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچ تار به ستا په بدن پاتې نه کړي

څو مره وېرېږي په ځان خورم خو دې نه

يو څو شېبې کېنه شېبې دې بس

❁ ❁

مينه رښتيا دَ بدن وينه اوڅکي

لا ستا دَ کور مخې ته ناست نه يمه

زړه مې ستومان ځي مې مېږي مېږي شوي

❁ ❁

څه ليشتينکي مخ دې ورک شه زغله

اُ دَ چينار چينار قامت مې رمنه

تا په کمڅو کښې اوږانده نکړي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ تقدس دَ مینې ننهٔ ردکوم
خو ما چې چا باندې باور کړے دے
هغهٔ مې ستر ګو ته را تجهٔ اوږې دي

❀ ❀

بُت دَ رنګونو زما نهٔ دے پکار
زهٔ په ستائینه دَ ګل څهٔ اوکړمه
چې خوشبو یانې راته لار بدلوي

❀ ❀

تورو مچو راکښې لشې پرېښې دي
اوس چې اوبدهٔ بانهٔ رابرند شي په ما
زما بدن باندې وینسته اودروي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاندي خواږهٔ خوارهٔ راګوري مدام
دوه قاتلاني دي راځي راپسې
ځان له دَ چا په توره سرغوڅ کړمه

❁ ❁

دَ ستر ګو تور دي دَ غزل مطلع کړم
داسې راټول راټول تقسيم شومه زهٔ
لکه دَ کاڼي په منځ نيم شومه زهٔ

❁ ❁

دَ آرام سپوږمۍ مې حلواق تېر وي
دېره که اوښه دَ صحرا ګوره ده
دَ ژوند په لاس کښې دَ مرګ توره ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس هاغه ګودر سپوږمۍ د شال چړته دے
چې ستا په مخ، زما په زړه مېشته وو
او وا په ستا د زنې خال چرته دے

❁ ❁

د دې ماحول جادو کېږي کېږه نه شي
چې د هوا رفتار کمېږي دلې
رو رو چې چې د سمند رتېږي شي

❁ ❁

راشه په ساه ساه کېږي مې ستا مینه ده
ستا که باور نه وي زما په ژبه
زما د زړه درزا ته غوږ او نیسه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دَ سکښې ما بنام تصویر جوړوم
چې ستا څوانۍ ته در نږدې غوندې شوم
زهٔ دَ لمبې دَ سر لوګے غوندې شوم

❁ ❁

ستا دَ بنا نُست خمار چې چلے دے جوړ
څنې که زهر ئې په تن کښې نهٔ وي
دَ اباسین په خوله کښې څګ ولې دے

❁ ❁

سیلۍ چې کلې کښې راوالوتله
چڼکو وزرو کښې راتول کړه بچې
ژوند دَ نسلونو دَ بقا نامه ده

Scanned by CamScanner

خفه په خپله تنهایی نه یمه

خو ساه مې اوځي چې د کور او نه کښې

زه د مرغۍ بچې یوازې وینم

❀ ❀

د اورینټل بلاک په اوږدلان کښې

زه چې په هرې زاویې ګورمه

د قاتلانو سترګو شیش کښې یمه

❀ ❀

د غم څپې د سرې ځې ورانوي

د یوې مور ژړا لیدلې ده ما

اوس د مرغانو بچې نه رانیسم

زما آواز به دې زړهٔ ټق اوچوي
ما په شوکېس کښې اېښودلے نهٔ شې
خهٔ ډېکوریشن پیس خو نهٔ یمه زهٔ

سم راته ښکارې د پښتون ښځې دې
اول دې ماته رابېره کړې او
روستو بیا راشې تا په شا ټپوي

زما د مرګ نه سترګه نهٔ ړپي خو
چې حادثې لاره کښې اووینمه
نو د جهاز نه په چترۍ دانګمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګکیاڼ وي توله ورځ کاروانه کوي
خو د جذبو په ټېله نه پوهېږي
ما د روبوټ سره واده کړے دے

❁ ❁

زما کتاب څې جینکۍ اولولي
اووائي دا زلمے به څرنګه وینو
دهٔ خو زمونږه نه بڼې ویستي دي

❁ ❁

لوړه د مینې په مرۍ غلې شوه
ماته ئې سپوره دوړې کښخودله
بېغلې ښځېله پرانې اوخوړې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیرینې مه څه دغوبل مخې له
بېغې له منځه ترینه ځان اوباسه
چې تماشګیې د تخنبې منځ نه اولې

٭ ٭

د ژوند پایه څه ناروا تېزه ده
دا هم زما دوه تصویرونه دي خو
دواړو کښې هیڅ مناسبت نشته دے

٭ ٭

رانه یه ساه دېره په سخته اوځي
وړنے چې ما نو د نیانست مېرمنې
بیا د ګلونو ډالۍ مه راکوه

Scanned by CamScanner

په شرق دې کتله او تاوان اوښکي
دَ ګل وږمې چې پکښې اور اخلي
داسې وطن دې په سېلاب لاهو شي

❀ ❀

زما سینه کښې ئې خپل سر پټ کړلو
زړهٔ ته مې نوره هم راجخته شوله
وئیل ئې مهٔ ځه ما پېریان وېروي

❀ ❀

دلته دَ هر چا په تندي ګونځې دي
ژوند ته هسې چې دَ خندا ورېغني
زهٔ دَ کاغذ ګلونه هم نهٔ ګڼم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



اُ که همّام دے که سعود، اسامه
که فائقه که ثوبیه که سعد
ټول مې دَ مینې دَ اسمان ستورې دي

❁ ❁

دَ لوئے قدرت مالکه ما اوبخښه
که اراده مې نهٔ وه جرم خو دے
دَ خپلې مور غاړې شهید کړے دے ما

❁ ❁

رانه غزوه دَ بدر هېره نهٔ ده
که اُخرې ساه کانې هم اخلمه
زهٔ به دَ خدائے لار کښې جهاد کومه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خپره په خپه نه یم خوشحاله اوکړمه
ستا په لاسونو کښې چینجي اونشي
په خپله مور هم گوزارونه کوي

❁ ❁

ډېر لوے کړاو غوارې يو والے د سوچ
خېر که مې ښځه په مزاج نه رسي
زه خو لا مور هم پېژندلے نه یم

❁ ❁

زه د خپل قام دانشوران پېژنم
زما په سوال به غلي پاتې شي تول
او د سگرېټ نه به لوگی پورته کړي

Scanned by CamScanner

درته چې ګورم دَ خالونو په داغ
دَ اوښکو زهر مې مرۍ پرسوي
اسمان دَ ستورو ادېره خونهٔ ده

❀ ❀

کم اصلي ښځې نه دي او ساته رب
خدائے شته که مړه یې کړي خونهٔ سمېږي
دَ سپي لکه به دَ چا پلار نيغه کړي

❀ ❀

ما چا له ستر ګې توري کړې نهٔ دي
پېغلې زما په لمن داغ لګوي
رانجهٔ چې پورې کړي نو ژاړي خله

پېغلې ویښل لاړمه ډوبه شومه
زړه په چا سېزي د موټر مالکان
بیا به زه لفټ د چا نه نه غواړمه

❀ ❀

دا څنې ښځه د غاړې غوړ شي زما
سنګسار سنګسار مې شي احساس د وجود
زه چې ماشومې لور له پړق ورکړمه

❀ ❀

ماتم ماتم شوره د ساحل سندره
زما جونګړه جوړ سپېزلې ده چا
ما د دریاب په سر اېرې اولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه خوبونه تښتولي دي تا
داخه پېریان درباندې ناست دي اخر
په نیمه شپه چې ستانه چغې اوځي

✿ ✿

ځکه زړه ستا په خوله باور نه کوم
که تا ته یاد شي نازنیني پېغلې
تا به مین کاته وکښي ټکي کوله

✿ ✿

بې ځایه ویرې مه ځواني خاورې کړه
سرته رسېږي نه کارونه دَ ژوند
پېغلې راځه چې دواړه مینه اوکړو

Scanned by CamScanner

منم خوږې اوبه دي ـ خو سپورې دي
خو دې پړاو ته د راتلو نه وړاندې
ډېر مې د خپله ځانه اور وېستی دے

❁ ❁

تاچې زما تصویر په مخ ښکل کړلو
وینې مې ټول بدن کښې جوش اوهه
سمندرونه مې د خیال سپورې شو

❁ ❁

په شوګیرو باندې ستومانه یو اوس
بېګاه مو ټوله شپه خبرې اوکړې
خو پټ مو اوساتل د زړه حالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په لمنه باندې داغ نښته دے
دا خو سپوږمۍ خپله ځواني تاسره
یو څو ساعته امانت ایښې ده

❁ ❁

د کوکر پرېشر دې سېوا دے بلا
ساده جینۍ اور ورته مه تېزوه
په چم کلاونه کښې چرته به اونځوې

❁ ❁

زه بې وسې باندې یقین نه لرم
د خپو د لاندې په ځې زمکه خو وي
که د غریب په سر اسمان نښته دے

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



پېغلو سینډونو ته منګې مه اوړې
څوک ساه لرونکې ځوب کړي دې جوړ
دا چې اوبه بوړ بوړکې جوړوي

چې پرېښېدلې ځم زما اوویني
تو په خندا اووائي ژاړي څله
راځه چې زه درله ژبې ماته کړم

دَ بد نصیبو په دې وران کلي کښې
مرغان چې جالې جوړوي شیرینې
دَ طوفانونو علامې ښکاره شي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر یو ګل دَ زړهٔ سندره یمه
دَ خپل احساس په درته څهٔ وایمه
ستا دَ ساګانو دَ ورمو نامه ده

❀ ❀

چې منهږې تر ړې هنګامې جوړې شي
څوک بې ګناه پکښې په سر اونګي
لارو کوڅو کښې ډزغږې مهٔ کوه

❀ ❀

تورو شپیلو نه چې لوګي پورته شي
ویمه که ورځ مې دَ وادهٔ ده ګنې
زما یاران ما په پالنګ خېژوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ په دې کلي کښې سړي نشته دے
چې د چا څه زړه غواړي هاغه کوي
چرګه يانګ اوواڼي چرګ هاواچوي

❀ ❀

زما سندرې خوندې کړې دې چا
ځان نه بلا په فاصله پروت يمه
راته نزدې نه شې ميراته يه شې

❀ ❀

زه په خپل ځان کښې راتولېږمه نه
نن دې جوړ خوب د بېغلتوب اوليده
ستا په بدن کښې ستا جامې تنګې شوې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حاسدانو په زړهٔ اور بلوه
کورو به هر څهٔ چې وي غم مهٔ کوه
او خاندہ کلکه راتہ غاړه وځه

❁ ❁

دا دَ قیامت ورځه چې هم نهٔ ده نو
چا جوړې زمکې ته خبرې کړې دي
کنې نو میاندې خیل نه چې ولې خوري

❁ ❁

ستا دَ پېښن ببو شرنګ چې واورمه نو
په نیمه شپه دَ کټ نه پاسمه زهٔ
او دَ چینې غاړې له ځان رسوم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کښې زهٔ یو منطق هم نه منمه
او منه دا به زما وهم وي خو
زهٔ هندوانې سره شو ملې نهٔ ځکمه

❀ ❀

دَ سامرې نسل او سېږي دلې
که ئې په خپلو سترګو هم اووينې
دَ څخې آواز پسې به غوږ نهٔ اوړې

❀ ❀

دنګې ځوانۍ دې دَ اسمان څوکه کړم
چې ابوالهول ته مخامخ شومه زهٔ
نو ستا عظمت راته راوړاندې شولو

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



حُسن په پاڼو کښې رانغاړمه نه
ستا تصویر ونه په ګلدان کښې ږدمه
څه لېونی زړهٔ په البم څهٔ کوم

❁ ❁

دا خوب به نهٔ وي چې ښکېل یې شمه
له څانګې څانګې چې مې الوځوي
یوه مرغۍ یم پورته سېل به شمه

❁ ❁

زنځیر موګے، موګې زنځیر اوخوړهٔ
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړهٔ
نن دې ویښو رانه تصویر اوخوړهٔ

Scanned by CamScanner

راځه که څې ګنې په مخه دې ښه
دومره مې زور په زړه کښې پاتې نه دے
چې اوس به زه تا ته جولۍ نیسمه

❁ ❁

په خط کښې لیکې جوړې هره دې کړم
بلا زورلے یم د مینې تبې
راشه زما دواړه وخکې اووتل

❁ ❁

ته په خوراک کښې ولې خیال نه کوې
لا خو د شپږ میاشتې هم نه دي شوي
ستا د وادهٔ جوړه په تا تنګه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په جولۍ کښې په خوارۀ دراولم
دا ستا ځواني که د صحرا تنده شي
نو زۀ به اوُنه د کجورې شمه

❁ ❁

څۀ که یو ځلې کړو د ژوندون حادثو
زموږ ۀ زمکې، اسمانونه بېل دي
تاسو خېرات غواړئ موږ مینې ویشو

❁ ❁

راسره دومره مینه هم مۀ کوه
څوک چې له کوره په سفر اوځي نو
بیا په مړۀ کېږه خوراک نه کوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیریني ډېر زر به واپس راشمه
داسې ښه کښې اوبنکي مه څلوره
دَ اسمان ستورې درنه غلا اونکړې

✿ ✿

مینه تر منځه فاصلې ورکوي
چې دَ پسرلو په چم کښې ساه واخلمه
ستا دَ بدن وږمې مې ځان سره وړي

✿ ✿

کټه په هر حال کښې هم ستا برخه ده
تهول عظمتونه دَ اسمان لاندې کړې
چې ستا رابرسند بانه وسله غورځوې

Scanned by CamScanner

مینه د ژوند هره تیاره تمبوي
ستا د نظر مسکې مسکې پلوشې
ما ته په لار کښې اورکې پرتوي

❁ ❁

دلته د وینو سېلاب ولې راشي
د دې وطن ورېمه ورېمه خاوره خو
مدام ګلونه د چامبېلي ټوکوي

❁ ❁

ته د ګلاب د ګل بنا ستا یه خو
ستا اننګي چې پرخه پرخه شي نو
داړه سپېرلي درته په خپو پرېوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library
Scanned by CamScanner

ستا اواره زلفې چې تک ورکړي نو
ړک شي له زهرو نه وجود دَهوا
بیا چې څوک ساه اخلي نو ساه ترې اوځي

---

ډېر شر پسنده، چنګیالي خلق دي
اوس که له تندې مرمه مړ دې شمه
خو زهٔ ددې کلي اوبهٔ نهٔ څکمه

---

زهٔ بې ګناه چا سره چېړ نهٔ کوم
تاکه لګه ببره کړې نهٔ وه
نو دا ګرېوان به دې شلېدلے نهٔ وے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د بدن خوله دې اوبهېږي
څه که اسمان درباندې اور وروي
خو ـ ځ پوهېږه به رانه پورې نکړې

❀ ❀

راپورته کېږه چې اننګې ته اوځو
راځه باران د پشکال ورېږي
که مو ګرمکې د بدن ماتې شي

❀ ❀

ته خفه کېږه مه شیرینې زما
که دا ژورې په ما خولې ګکوي
د بدن وینه به صفا شي زما

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دومره پېغلو دَ زړهٔ سر يمه زهٔ
که دَ ديوې نامه مې هم واخسته
ستا دَ تصوير نه به لمبې پورته شي

❁ ❁

څاسره وخت کوم دے چې مونږ اووينې
ټوله دنيا دَ ځان په غم اخته ده
راځه بلبلې راتږ غاړه ووځه

❁ ❁

دَ اسمان ستورې راته غوږ کښې واځي
په خپلو سترګو کښې ئې خال دے ځکه
زما په سينه لمن داغ لګوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دومره ښکلې جينۍ نه وه ليدې
زه هم انسان يم اخر زړه لرمه
خطا مې نه وه که خطا شومه زه

❁ ❁

دَ محبت بلا چلونه راځي
خو دَ پښتون کور کښې پيدا يمه زه
دَ پېغلو ژوند بربادولے نه شم

❁ ❁

مينه مو نه پرېږدي دَ شپې تياره کښې
که دَ اوبو په لاښ کښې هم ناست يو خو
راپسې ستورې او سپوږمۍ راځغلي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا که ستني کړې پېلوشې دَ نظر

زړهٔ به زرغون نهٔ کړې دَ ژوند فصلونه

بیا به په دې للمه باران اونهٔ شي

❁ ❁

ارمان په غېږ کښې دَ ارمان ورک شولو

مانهٔ دَ لاس کرښو کښې ځان ورک شولو

دَ زړهٔ درزاء پسې مې لاړه چرته شم

❁ ❁

زما لباس په ما کښې تنګ خو نهٔ دے

ژوند دَ نولې او دَ مارجنګ خو نهٔ دے

کېږ به ترڅو په دې فریب کښې یمه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ کیتهس سندرې اورېدلي دي ما
ما دَغالب شاعرې هم لوستې ده
ستا دَ یوې خندا جواب نهٔ لري

❁ ❁

دَ ژوند صحرا کښې دَ ښائست میرمنې
تا چې په کومه لار دمه کړې ده
تر ښه روانې دي چینې دَ مینې

❁ ❁

دَ اېښې په مخ سرخي چې ته وې
چې دا شفق شفق ګلونه سپرې
دا پرې هم ستا دَ انګو سپورې دي

Scanned by CamScanner

ساده جینۍ ده وائي مه ویرېږه
ستا نه خو زړه زیاته زړه وره یمه
په هسې نه چې دا مې څه اوویل

د پېغلتوب مستۍ دې ډوبه نه کړي
دا خو بېړۍ چا سره کږه نه اولي
د سمندر اوبو ته ټوپ مه وهه

ماتې پېسې چې جېب کښې نه لرې نو
ځان داسې مخکښې مخکښې نه مه کوه
ګنې نو لوټې به درله مات کړمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پکښې عکس دَ لېونتوب اولیده

سوچ کښې مې ورکه شوه دَ ژوند ائینه

زهٔ چې بېدار شمه، ما خوب اولیده

❁ ❁

حُسن په هر ماحول کښې خیال ساتي خپل

چې فرښتو ترې لاس نیوے کړے دے

اُکمال ماله دَ هسپتال نرسه ده

❁ ❁

سپوږمۍ که تا خپله هاله ماته کړه

اسمان ته وایه لاړې ډوب ئې کړلې

ستورې دَ سینه تل کښې هم سترګې وهي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ازمېښتونه ئې د ژوند دانیسي
کنې نو زړهٔ نه ئې لمبې پورته شي
مور چې د تې نه خپل ماشوم پرېکوي

❁ ❁

ستا د نظر مستي لاهو نه کړي، ما
زړهٔ کښې مې مینه غورځنګونه کوي
او سمندر سره روان یمه زهٔ

❁ ❁

غاوره پېغله خپل غرور ډوبه کړه
چې لېونې سپې خوله ورواچوله
اوس ئې په کېږه کښې کوترې شوې دي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لوښته دې په ما مه غوروه
وېښ بزم مانه چرته هېره نه شي
زما نظر څه سپېلانې غونډې دے

❀ ❀

ګنې اختر ونه شي چاپېره له ما
د صائمې د سترګو پرق چې وائي
روژه کښې سیدالابرار شوې دے

❀ ❀

ته په ماڼۍ کښې د جنت مېشته يې
د ناعمې خندا ته پام اوکړه لېن
خپل ځان ته زړه کښې فرښتې ښخوي

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته د کور دروازه مهٔ ساته اوس
نوې فتنې ترې رابرخېږه نهٔ شي
بیا چا په زمکه کېنې غنم اوکرل

❁ ❁

راکوره مهٔ دا به احسان وي په ما
ادا کوي به څوک ددې کفاره
ستا په کتو زما روژه ماته شوه

❁ ❁

بیا به زهٔ تا سره په سېل نهٔ اوځم
تا د وربه کمبل کېنې اونغښته ځان
واوره په ما تمامه شپه ورېده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نه چې زه ورته کښته نښم ، خو
میانديږ که خیال دَ خپل ناموس ساتي نو
بیا دې زامنو له واده نه کوي

❁ ❁

زه دَ رومان یوه سندره یمه
زما دَ ژوند په هره لار الوځي
څرخکي ، زانې ، لولکه ، بلبلې

❁ ❁

ستا دَ انصاف شمله راټیټه مه شه
خو اوس په دې کښې به څوک څه او وائي
لېوانو مات کړل دَ هوسو ښکېرې

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ئې حقونه په سر سترګو منو
خو نشي نهٔ سپارو طوفان ته د ژوند
څوک د هوسې په اوږو بار نهٔ اوړي

ماڅې پرې ټول عمر خپل ځان خوړلو
لګې ببره کړې چې ما اووینې
کوسې کښې تاؤ شي رانه څخ واړوي

هغې به دې لاس کښې برکت رانشي
د پلار په څخ چې لګېدلے ئې ته
یاد ئې ساته څوک به دې څخ نهٔ کوي

Scanned by CamScanner

سر مې قلم نه کړې منصف د وطن
د ګلو لښته چې راغاړه وته
اوس مې په ساه ساه کښې وږمې دې د ګل

❀ ❀

ته د هاتهي غوږ کښې اوده ولې يې
چې په لستوڼي کښې ماران ساتي نو
ځان به ستا په خود کښې اوښکېږي

❀ ❀

چې يې د زړه درزا ليدلې نه ده
ا شازادګۍ قرانګو ما يادوې
بندې چې په تاج کښې د طاوس وزرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اومنه دا ډېره سپېره لوبه ده
بيا به هم تا ته د ژوند لارې نيسي
خپلو بچو سره شطرنج مه کوه

❀ ❀

دومره په مينه مينه مه راګوره
لمسي نه ورانه ترېنه سازه نه شي
ښځې زما توره کښي زنګ نښته دے

❀ ❀

د بدمعاشانو ښار دے غبن مه کوه
که کمزورې ښايم نو مړ به مې کړي
تو پېره مې څکه په چمبا ايښې ده

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر چاپ کتابونه

(۱) د رڼا سپوږمۍ ، پښتو شاعري ، ۱۹۹۱ء
(۲) ہم اینٹوں کے قیدی ، اردو شاعری ، ۱۹۹۳ء
(۳) ستړګو کښې خوب د ګودر پاتې نه شو ، پښتو شاعري ۱۹۹۶ء
روميے ايوارډ يافته چاچا کريم بخش ايوارډ ۱۹۹۶ء
(۴) راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي ، د پښتو هائيکو مجموعه ۱۹۹۸ء
(۵) گرفت ، اردو شاعری ، ۱۹۹۹ء
(۶) کاڼي د ګل په لاس کښې خوندنه کوي ، د پښتو هائيکو مجموعه ، ۲۰۰۰ء
(۷) اوازونه او دائرې ، پښتو تنقيد ، ۲۰۰۱ء
(۸) په ساحل د نظر ، پښتو شاعري ، ۲۰۰۲ء
(۹) ستا د خوانۍ تصوير په خوب اوده دے ، د پښتو هائيکو مجموعه ، ۲۰۰۳ء

# چاپ ته تيار

(۱) رضا ہمدانی احوال و آثار ، اردو تحقیق (پي۔ ايچ۔ ډي مقاله)
(۲) نیا اور پرانا غالب ، اردو تنقید
(۳) هائيکو او پښتنه هائيکو ، تنقيد و تحقيق ۔

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**